محسن

د قرآني زده کړو او پوهنې لړۍ

۱۰۵

# محسن تفسیر

## ۱۰۵ ـ د «فیل» سورت

زباړه او څېړنه :

احمد حسین عنایت

د فيل سورت تشريح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالفيل

# د فيل سورت (۱۰۵)

د «فيل» سورت مکي دی (۵) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۵) سورت دی د سورت له مضمون او تاريخي شاليده په څرګنده توګه بريښي چې دا سورت به په مکه کې د نازل شوو سورتونو په لومړني پَيرپورې اړه ولري. ددې سورت نوم د هغه په لومړي آيت کې د «اصحاب الفيل» له لفظه اخېستل شوی دی.

## له مخکيني سورت سره اړيکه:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «همزه» دی له همزه سورت سره د فيل سورت اړيکه او اړوندتيا ډېره ظريفه او باريکه ده او بايد ډېره زياته پاملرنه ورته وشي. د همزه سورت له شتمنۍ او ځواک سره د زړه تړني له ډکرونو او زمبنې څخه چې له خلود او تلپاتېتوبه يې ريښه نېولې يادونه کوي؛ چې همدا د انسانانو د شړنې او رټنې او د هغوی د شخصيت او سرېتوب د سپکاوي او ماتونې لامل کيږي. او د فيل سورت د دا ډول خصلت ټاکلی مصداق او تحقق، نښه او علامت په پراخې او ټولنيزې تنظيم شوې بڼه څرګندوي. کله چې ځانوينې او ځانپالنه، مال ټولونه او شمېرنه يې د يوې ټولنې موخه شوه، د داسې چلند د بهير په پای کې د داسې نظامونو د څرګندېدو او لواړېدو لامل کيږي چې د ځان په ستر ګڼلو، اوچت ګڼلو او تکبر سره، د انسانانو استعباد، غلام کولو او ځبېښاک ته لمن وهي. او د فيل اصحاب له داسې نظامونو څخه تاريخي ځرک، مصداق او عملي څرګندونه ول.

«ابرهه» چې د يمن پر يهودي پاچا له بريالېتوب او د هغه د هيواد تر نيولو او په سيمه کې د ټولو مخالفينو تر ځپلو وروسته، له جنګي پيلانو سره مل، د حجاز او کعبې هوډ کړی وو چې د کعبې له ويجاړولو سره سم د عربانو زړونه د «القليس» [Ekklesia] سترې او پرتمينې کليسا لور ته ورمات کړي، په واقعيت کې «ابرهه» د حبشي [اوسنۍ ايتوپيا] د مسيحي پاچا «نجاشي» د لښکر بولنـدوی وو، او هغه هم د روم د امپراتور لاس ناستی او د هغه تر اغيز لاندې وو. او له استکباري اړيکو په دا ډول يوه رسۍ او تړون کې، د خدای بنده ګان د جبارانو، ظالمانو او کرکرانو تر لَغتـو او پښـو لانـدې ټکېدل او چيتېدل، ان تر دې چې د خپلو مذهبي مراسمو لپاره يې ازادي او امنيت نه درلـود. پـر دې ترتيب لېدل کيږي چې څه ډول د يوې ټولنې په هر وګړي او هر غړي کې شـتمنيو، پـانګې او ځـواک پورې زړه تړنه او په تکاثر او زياتوالي کې يې رقابت او يو له بله د مخکې کېدو او رقابـت لپـاره منـډه

او ځغاسته د داسې ناعادلانه نظامونو د پیدایښت لامل کیږي. د همزه په سورت کې د دغې انحراف او کږېدنې زمینه او ذکر او د فیل په سورت کې د هغه د تحقق او عملي تطبیقي مصداق او بېلګه څرګندوي؛ چې د شتمنیو او ځواک پورې د زړه تړنې په پایله کې ښکیلاکګر نظامونه بڼه نیسي.

ددغو دوو سورتونو ځینې کلیمې، د هغوی د مضمونونو تر منځ ظریفي اړیکي څرګندوي چې له لنډ غور سره څرګندېدای شي. له هغې ډلې په «همزه» سورت کې د «حطمه» کلیمه ده [کلا لینبذن فی الحطمه و ما ادریک ما الحطمه] چې معنا یې هماغه کړنې دي چې جنګي پیلان یې سر ته رسوي، او د فیل په سورت کې ورته نغوته شوېده. د «حطم» کلیمه تر لَغتو لاندې کولو، تر پښو لاندې، چیتولو او ماتولو لپاره کارول کیږي، هر چیت شوي او ووړ شوي ځیز ته له همدې لامله «حطم» وایي. په قرآن کریم کې دا کلیمه په هر دواړو معناو کارول شوې ده [چې په واقعیت کې له یوې معنا دوه مخه دي]. د ټکولو، لَغت کولو او چیتولو په مورد کې، د نمل سورت، د یوه میږي خبره نورو میږیانو ته په خطاب کې نقل کړې ده چې د حضرت سلیمان او د هغه د لښکرو تر لَغتو لاندې د چیتېدو له ویرې، هغوی ته د هغوی خپلو ځالو ته د تللو خبرتیا او ګواښنه کوي: حَتَّىٰ إِذَا أَتَوْا عَلَىٰ وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ. [نمل ۱۸ (۲۷:۱۸)] تر دې چې د میږیانو ناو ته ورسېدل. یوه میږي [د سرتېرو د پلونو له اغېزې د ځمکې د لړزښ له احساس سره] وویل: ای میږیانو خپلو ځالو ته ورننوځئ، هسې چې سلیمان او لښکر یې په ناپامۍ کې تاسو چیت کړي.

پر پورتنې آیت سربېره، درې ځلې نور هم د «حطام» کلیمه له همدې ریښې په قرآن کې کارول شوې ده چې په ټوله کې د ونو له زرغونتیا او شینوالي وروسته د هغوی د څانګو او پاڼو د ورستېدو وچېدو او ماتېدو په معنا ده «... ثم یهیج فتراه مصفراً ثم یجعله حطاماً ...»[زمر ۲۱ (۳۹:۲۱)] [... وروسې هغه ژیړبخن وینې، بیا هغه رژېدلې [خس او خاشاک] کړي...]، «... ثم یهیج فتراه مصفراً ثم یکون حطاماً ...» [حدید ۲۰ (۵۷:۲۰)] [...وروسې [ورو ورو] وچ شي او وینې چې ژېړ شوی دي، وروسې خس او خاشاک شي...] ، «لو نشاء لجعلناه حطاماً...»[واقعه ۶۵(۵۶:۶۵)] [که وغواړو دا [کښتونه] به (په) خس او خشاک [بدل] کړو]، چې د «حطم» د کلیمې بل مخ څرګندوي.

د خپل لښکر په لومړنیو کړښو کې د جنګي پیلانو له راوړو څخه د «ابرهه» موخه له دې پرته بله نه وه چې د مقابلو لیکو او دښمن لښکر مات کړي او د هغوی کسان تر پښو لاندې چیت او لَغت کړي. همدا راز د میږیانو په سترګو کې هم سلیمان او لښکر یې لکه د پیلانو په څېر برېښېدل چې د هغوی تر پښو او لَغتو لاندې د راتلو له ویرې خپلو ځالو ته وتښتېدل. (د همزه سورت کې) د حطمه له کلیمې سره د پیلانو تناسب او ورته والی، ددغو دوو سورتونو ظریف ارتباط او انسجام څرګندوي. د همزه په سورت کې، د حطمه لفظ هاغو دنیاپالو ته د ماتوونکي عذاب په عنوان کارول شوی دی، چې له عیب ځارنو، ویارسپړنو او توهین او تحقیر سره د نورو د شخصیت او انساني منزلت د ماتوونکو په ستاینوم معرفي شوي دي [ویل لکل همزة لمزة]. لکه څنګه چې د هر وګړي یا یوې

ټولني د عذاب ډول د هغه وګړي يا ټولني له چلند او لاسته راوړنو سره نيغ او مستقيم تناسب لـري، د حطمه عذاب د هغوی د کړنو مستقيم غبرګـون ګڼل کېږي. پـر دې ترتيـب د حطمـه کليمـه، هـم د همزه سورت تر نظر لاندې د دنياپالو عذاب څرګندوي او هم د نغوتې په توګه د فيـل سـورت د پيـل ملو عذاب؛ هغوی چې د نورو د لَغت کولو او د الله د کور د مـاتولو او ويجـاړولو پـر ځـای پخپلـه د اورشيندو د ويلو اېشېدلو توکو تر لاندې چيت او لَغـت شـول او لکـه د ونـو د ورسـتو وچـو پـاڼو او څانګو يا د ژول شو بوسو، پروړې او ګياه په څېر ووړ او چيت شول [فجعلهم كعصف مأكول].

د پاملرنې وړ دا چې د فيل په سورت کې د «عصف» د کليمې معنا هم هماغه د همزه په سـورت کـې د «حطمه» د معنا په څېر ده او د وييونو [او لُغتونو] کتابونو هر دواړه کليمې «د بوسو مېـده، د ونـو وچې ورستې پاڼې يا هر وچ ووړ شوی څيز» معنا کړې دی، چې دا يو شـانوالی او تقارن هـم د دغـو دوو سورتونو [همزه او فيل] پر پيوند او اړيکې بل لامل دی.

پر پورتنيو نښو او نکتو سربېره په دواړو سورتونو کې ګډ مفهومونه او مضمونونه شـتون لـري چـې د عذاب اړيکه د انسانانو له کړنو سره په ظريفه توګه څرګندوي، د همزه په سورت کې له الهي بل شوي اوره [نَارُاللَّهِ الْمُوقَدَةُ] ډارونه او ګواښنه کوي او د فيـل پـه سـورت کـې لـه اورشـيندي څخـه، چـې د ابرهه لښکر يې لاندې کړ. په همزه سورت کې يې الهي اور چې پـر زړونـو نغـاړل کېږي او برلاسـی کيږي په ورتړلې توګه يې د ستنو په منځ کې ستايلی دی [إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّوْصَدَةٌ، فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ]. او هاغه څه چې تاريخ پوهان له هاغې پرتميني او بېساري کنيسه څخه چې ابرهه د يمن په صنعاء کې د «القُلّيس» په نامه ودانه کړې وه، ستاينه کوي. [دې بهير پورې د اړوندو تاريخي پېښـو لنـډيز مرحوم طالقاني رحمةالله عليه د فيل په سورت کې راوړی دی. چې هماغـه «تـړل تـوب او اېسـاروالی» دی «مؤصده» او د آسمان څکو ستنو «عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ» درلودل دي. (الله اعلم)].

ددغې برخې پـه پـای کـې بـه ددې خبـرې يـادول بـې ګټـې نـه وي چـې د قلـم پـه سـورت کـې د دنياپـالو شـتمنو او پـانګوالو د ځانپـالنې، عيـب څـارنې، ويارسـپړنې، سـتغ خـوی او د بـې تبـرۍ پـه غنـدنې پسـې، هغـوی پـه داسـې علامـت چـې خـدای تعـالی بـه يـې «د هغـوی پـر خرطـوم» ووهـې ګواښـلي او تهديـد کـړې دي. «أَنْ كَـانَ ذَا مَـالٍ وَبَنِـينَ... سَنَسِـمُهُ عَلَـى الْخُرْطُـومِ». [قلـم ۱۴ (۶۸:۱۴)...۱۶] [پـه دې خيـال او ځـان غولونـه] چـې مـال او زامـن [=ځواک] لري....[د غرور او تکبر] پر پوزه به يې [د رسوايي] نوغی [او داغ] کېږدو.

داسې برېښي لکه څنګه چې بيزو د تقليد ښکارندوی، خوګ د حرامخورۍ نښـه، سـپی او لېـوه د داړنې د خوی سمبول او ...دي، فيل صفتي به هم د هاغو کسانو ورتيا وي چې د مال او پانګې په راټولولو او ځواک، غواړي ضعيفان او بېوزلي د خپلو درندو پښو لاندې چيت کړي او وځپي. او په هر ځای او چم کې مخالفت او مقاومت د خپل درووند ځواک په توسه مات او ټوټه ټوټه کـړي. کـه دا تشبيه سمه وي، د دوو سورتونو همزه او فيل د مضمونونو پر ارتباط او انسجام بل تاييد ګڼل کېږي.

## د سورت منځپانګه او چورليځ:

د سورت نوم او لومړی آيت د يوې پېښې ښکارندوونکی دی چې له هغې څخه عبرت اخېستنه د سورت اصلي پيغام تشکيلوي. دا پېښه له دې لامله چې د عربو خلکو لپاره يې ځانګړې ارزښت درلود او د هغوی پر ژوند او داخلي او خارجي اړيکو يې ژور اغېز پرېښی، د «عام الفيل» په عنوان د عربو د تاريخ پيل، مبدأ او سرفصل ګومارل شوی دی. پر دې بنا ددغې داستان اصل د پيغمبر معاصرو خلکو لپاره معروف او پيژاندی وو، خو خلک د پېښې د رامنځته کېدو او ووړبرخو او جزئياتو له څرنګوالي او کيفيت څخه، د مکې د ښار او شاوخوا د تشونې او په پټنځايونو کې د پټېدو له لامله بېخبره ول. [ځکه چې د ابرهه د لښکر د يرغل له وېرې د غرونو او درو په غارونو او سمڅو کې پټ شوي ول]. او له همدې لامله دا سورت د يرغلګرو په نسبت د پالونکي ښبتن د فعل څرنګوالی او «کيفيت» تشريح کوي.

له بل لوري د ټولو تاريخپوهانو د شهادت پر بنسټ، د رسول اکرم زيږېدنې، سمدم په همدغه کال کې بڼه نيولې ده. دا ډول تقارن او انطباق چې نه يوازې عربي نړۍ، بلکې د هاغه مهال ټوله نړۍ يې لاندې باندې کړې ده، قاعدتاً نه ښايي تصادفي او پرته له لامله وي.

د ابرهه د لښکر له مرموز، پټ او ناڅرګند نشتېدلو او له منځه تګ سره چې له خپلو جنګي پيلانو سره يې مکې ته په لاره کې د عربو ټولې ځواکمنې قبيلې يوه پر بلې پسې ځپلې او له منځه وړې وې او د پيلانو له ډار او وحشته د بيديا باتورانو او زړورو اتلانو خپل ځانونه بايللي او تسليم کړي ول، کعبې او د مکې ښار او د قريشو قبيلې ته د عربي قومونو او ګاونډيانو له تعظيم او تکريم سره پرله پسې پاملرنه او ځيرنه، نوره هم وځکېده او زياته شوه، او د هغوی مرکزيت او شهرت په ځلونو له تېره زيات شو. دا ډول پيليزه پخپلو کې د دښمنو عربانو د يو کور د چورليځ ګرداګرد د راټولېدلو او د هغوی د ترېدلو زړونو د يو ځای کېدلو او تأليف لامل شو. او ځلوېښت کاله وروسته د رسول اکرم له ظهور او بعثت سره يې ورو ورو او په تدريج د وحدت او يووالي چاپېريال، ځمکه او ډګر برابر کړ.

داسې برېښي چې ددې سورت په لومړي آيت [الم ترکيف فعل ربک ...] کې خپله د شخص رسول اکرم مخاطب کول او [د الله پر ځای] د «رب» صفت ته اشاره کول د همدغه مطلب تائيد او ملاتړ کوي چې لومړی ددې پېښې اړيکه او د هغې تقارن د پيغمبر له زېږد سره څرګندوي، دويم د داسې يوه بعثت لپاره د روزنې او سريزې د ځمکې او ډګر په پنځون کې د الهي «ربوبيت» او تدبير لاس بيانوي.

خو هغه څه چې په دې پېښه کې ډېر تر ليد لاندې دي، ګواکې د پېښې د منځته راتګ څرنګوالی او «کيفيت» دی [الم ترکيف فعل ...] نه د هغې جوتول، لکه څنګه چې وويل شول، دا پېښه د ټولو عربانو په خبرو اترو کې يادېده او هاغه څوک چې د پيغمبر هم مهالي

ول يا خو پخپله ددې پېښې شاهدان ول يا يې نبغ په نبغه له خپلو پلرونو څخه د هغې داستان اورېدلى وو. خو هيچا د ابرهه د لښکر د نشتېدلو له «کيفيت» او د هغه له وروبرخو او جزئياتو څخه خبر نه درلود. ګواکې څه مهال وروسته د مکې خلک چې د ابرهه له پيلانو او لښکره تښتېدلي او پټ شوي ول، له خپلو پټنځايونو راووتل چې ووينې کعبه څه ډول ويجاړه شوې ده، د «اصحاب فيل» له تيت وپرک شوو جسدونو سره مخامخ شول. په دې ترتيب هاغو کسانو چې له جنګي پيلانو سره پر تکيه، داړ او ويارړ او له هغوى څخه په پليونى، د خپلو پراختيا غوښتنو خنډونه ماتول او د خداى بندګان يې د پيلانو تر پښو لاندې چيتول، پخپله هم د ډېرو تر دروند بار لاندې، چې هغه هم د هغوى د ډېرزړه والي پايله او محصول وو لکه د ژوول شوو واښو او پرورې په څېر مات او چيت شول.

په دې پېښه کې، د ابرهه سرتيري «اصحاب الفيل» نومول شوي دي. له هر څيز سره مصاحبت [اوملتيا] له هغه سره يو ډول نژدېوالى، ملازمت او چوپړ څرګندوي چې په ډېريو موردونو کې د يو څيز د ژغورنې او پر ځواک يا او چت پوړ د ډېې او تکيه کولو له کبله سرته رسېږي. لکه د کهف اصحاب [غار ته پناه راوړونکي]، اصحاب الحجر [د عاد قوم چې په غرنى سيمه کې له ژوند او پر ډېرينو ماڼيو له داړ او اتکاء سره، د غرونو په زړونو کې يې ودانۍ تراشلې او د ناماتۍ او تل پاتېتوب انګېرنه او احساس يې کاوه]، اصحاب الايکه [د شعيب قوم چې پر باراني طبيعت او برکتناکو «ځنګلونو» له داړ او تکيه سره يې، د نه ړمنتيا احساس او انګېرنه کوله]، د مدين اصحاب [ پر تمدن، ښاري ژوند او مدنيّت متکي او داړه]، اصحاب الرّس [د څاه پر اوبو داړه او تکيه کوونکي ـــ د ايران په جنوبي سيمو کې د وچوبي او لبر اوبې سيمي خلک]. د ابرهه لښکر هم چې «اصحاب الفيل» نومول شوي دي، د جنګي پيلانو په ځواک له داړ سره يې، خپل ځانونه ناماتي انګېرل او خپله برلاسى او غلبه يې تلپاتې ګڼله.

بې مخينې طرحې، نقشې او تاکتيکونه چې هغوى په جنګي ارابو کې [د آسونو پر ځاى] د پيلانو له ګومارلو سره اندلي ول، سره له دې چې د يوې مودې لپاره د هغوى د تاړاکګرو او له قهره ډکو غلبو او لاسبريو لامل شوي ول خو په پايله کې و نه چلېدل او له منځه ولاړل.
ابرهه چې ګواکې د يمن بولندوى او د حبشې د واکمنۍ ځاى ناستى وو، دا ټولې لښکرکښۍ يې د حبشې د پاچا په بولۍ، او هغه هم چې د امپراتور لاس ناستى وو، د خپل بادار په فرمان د کليسا د اوېجه، او د روميانو د ښکېلاکګر نفوذ د پراختيا او د ايران [دهغې پير بل زبرځواک] له بريدونو سره نژدې د مرکزونو او اډو د رامنځته کولو لپاره سرته رسول. او د ستري پرتمينې «کنيسه» ودانول هم د زړونو اړول او ځکول له کعبې څخه صنعا ته ول چې په دې توسه د مکې معنوي واکمنې او د اعرابو د راټولېدو مرکزيت او د قريشو مرجعيت نشت شي او د روم د امپراتور د پراختيا غوښتنو موخو د پرمختګ خنډونه له منځه ولاړشي.

دا ټولې طرحې، تدبيرونه، نقشې او سياسي نيرنګونه د مخالفينو د له منځه وړلو لپاره، چې په قرآني اصطلاح کې «کيد» نومول کيږي، له دې لامله چې له حق او عالم له حکيمانه نظام سره برابر نه ول، کوم ځای ته ونه رسېدل، ونه چليدل او د قرآن په تعبير ورک شول [الم يجعل کيدهم فی تضليل].

د «کيد» اصل په ربړ او مشقت کې د بل چا اچول دي او په اصطلاح کې پر هاغو پټو دقيقو طرحو او تدبيرونو دلالت کوي چې د دښمن پر وړاندې طرح کېږي په داسې ډول چې په ټوله کې د قهر او غلبې له اړخه سرته رسيږي، د اند او ليد لامل اصلي نقش لري. هغه څه چې انسان په دې بهير کې په خپل وګړيز او ټولنيز ژوند کې د دښمنانو پر ضد سر ته رسوي که له حق او پر هستۍ له واکمن نظام سره منطبق وي، پايلې او نتيجې ته رسيږي او که نه له هغه سره د تضاد او تناقض له لامله له نتيجې او پايلې پرته پاتېږي او آغيزې يې ببرته شخص ته ورګرځي. «أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ» [طور۴۲(۵۲:۴۲)]. «آيا [د حق د نشت لپاره] د چل ول ويلاړ لري؟ خو منکران، پخپله [د خپلې دنيا] په ټکي کې نښتي دي.» د اصحاب الفيل کيد هم لکه څنګه چې بنسټ يې پر ظلم او تيري او جابرانه پراختيا ايښی وو کوم ځای ته و نه رسېد [و نه چلېد] نشت او تباه شو.

قرآن کې په دې اړه د «تضليل» کليمه کارول شوې ده، چې [د تفعيل په باب کې او] د «ضلالت» [[ګمراهي، لاروړکی]] له مصدره ده [الم يجعل کيدهم فی تضليل] او په بل ځای کې يې هم ددې کليمې پر ځای، «هدايت نه کول» کارولي دي «... و ان الله لا يهدی کيد الخائنين» [يوسف ۵۲(۱۲:۵۲)] چې هر دواړه په يوې معنا دي. هاغه څوک چې هدايت شوی وي مقصد او هدف ته رسيږي، خو ګمراه او لاروړکي وګړي سرګردانه وي او ځايته له رسيدو پرته پاتيږي.

د «تضليل»کليمه هم د پيل ملو [اصحاب الفيل] د کيد په اړه د همدغې موخې لپاره کارول شوې ده چې د هغوی طرحې او تدبيرونه د هغو له پيچلتياو او باريکيو سره سره چې په هغې کې کارول شوې ولې، د هستۍ له حکيمانه نظامونو سره د نه انطباق له لامله کوم ځای ته و نه رسېدل او تباه شول. ځکه چې اصولاً د کافرانو کيد په ګمراهۍ او ببلارۍ کې وو «... و ما کيد الکافرين فی ضلال» [غافر ۲۵(۴۰:۲۵)] او الله تعالی د هغې سستوونکی دی «ذلکم و ان الله موهن کيد الکافرون» [انفال۱۸(۸:۱۸)] هر څومره که د فرعوني نظام پر ځواک ډاډه او متکي هم اوسي، يو «کيد» به د هغه په تباهۍ او زيان کې مستمر او پرله پسې اوسي «... و ما کيد فرعون الا فی تباب» [غافر ۳۷(۴۰:۳۷)]

ځکه چې اصولاً شيطاني تدبيرونه او طرحې سستې، ضعيفې او د ډاډ وړ نه دي «... ان کيد الشيطان کان ضعيفاً». [نساء ۷۶(۴:۷۶)]

د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ﴿۱﴾ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿۲﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿۳﴾ تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ ﴿۵﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ ﴿۶﴾ | أَلَمْ تَرَ = آيا تا و ليدل [ته خبر شوی نه يې]، ليد او اندنه دې نه ده کړې ـ أَصْحَابِ الْفِيلِ = پيل ملان، د پيل خښتنان، پيل لرونکي، د پيل ملګرې، د پيل اصحاب ـ كَيْدَ = چل ول، ټګماري، دسيسه، نيرنګ، پلان، تدبير، برنامه ـ تَضْلِيلٍ = تباهي، نشتوالی، ورکوالی، شنډول، باطلول، بې اغيز کول ـ طَيْرًا = الوتونکی، توغول شوی، فضا ته شړل شوي، په هوا شوي [تاوده (داغ) ويلي توکي] ـ أَبَابِيلَ = جوپه جوپه، غونډ غونډ، ټولی ټولی، ډله ډله، پرله پسې ډلې ـ تَرْمِيهِمْ = هغوی پې ويشتل ـ حِجَارَةٍ = ډبرې، تيږې ـ سِجِّيلٍ = کلکه او سوزوونکي خټه، سنګ ګل، سنګچل، شنګېړ، د اور شيندي ويلو توکو څخه کلکې شوې ډبرې ـ عَصْفٍ = بوس، پاڼې، واښه، ګياه، وچې پاڼې ـ مَأْكُولٍ = ژوول شوې، خوړل شوې. |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ﴿۱﴾

آيا ودې نه ليدل [= په دې پېښه کې دې اندنه نه ده کړې] چې ستا پالونکي خښتن له پيل ملانو [1] [= لښکر چې د پيلانو پر ځېونکي او ټکوونکي ځواک ډاډه ول] سره څه وکړل؟[2]

| أَلَمْ تَرَ | كَيْفَ | فَعَلَ | رَبُّكَ | بِأَصْحَابِ الْفِيلِ |
|---|---|---|---|---|
| آيا تا و نه ليدل | څه ډول | وکړل | ستا پالونکي څښتن | له فيل ملو کسانوسره |

---

۱ـ د مصاحبت معنا، يو ډول ملتيا او چوپړ دی، چې ورو ورو د انسان شخصيت له هاغه چا يا هاغه څه سره چې مصاحبت کوي ورته والی مومي؛ لکه د رسول الله صحابه او نور دنيايي مصاحبتونه. له هر څه سره مصاحبت پر هغه له ويسا او ډاډمنتيا سرچينه نيسي او پل په پل د هغه له اغېزمنتيا څخه هغه ته، ورته والی مومي. د سعدي په وينا:

گلی خوش بوی در حمام روزی — رسيد از دست محبوبی به دستم
بدو گفتم که مُشکی يا عبيری — که از بوی دلاويز تو مستم
بگفتا من گِلی بَد بوی بودم — وليکن مدتی با گُل نشستم
کمال هم نشين در من اثر کرد — و گر نه من همان خاکم که هستم

د اصحاب کليمه ۷۷ ځلې په قرآن کې تکرار شوې ده. هم صحبت، دوست او ملګري ته هم صاحب ويل کيږي. د اصحاب عنوان په قرآن کې پرې راز راز نومونو اېښوول شوی دی؛ تر ټولو زيات

«اصحاب النّار» [۲۰ ځلې] لـه دې وروسته «اصحاب الجنّة» [۱۴ ځلې]، «اصحاب الجحيم» [۶ ځلې]، «اصحاب السعير» [۳ ځلې]، همدا راز د : «فيل، سفينه، اعراف، کهف او رقيم، قبور، موسی، سبت، مَدْيَن، ايکه، حجر، رَس، اُخدود، صراط السّوی، ميمنه، يمين، مشئمه او شمال» اصحاب.

۲ – د تاريخ ليکونکو په روايت، د اسلام د پيغمبر (ص) مبارک ميلاد د «عام الفيل» [دفيل کال] سره هم مهال دی او عربانو دا مهمه پېښه، د خپل ژوند او موقعيت نوی فصل او د تاريخ پيلامه ګڼله، چې دکعبې پر حريم، د تاړاکګرو تېريګرو پيل سپرو لښکرو پر نشت، او ددې کور او چوپړيانو د اعتبار پر زياتوالي پای ته رسېدلې وه. پر دې بنا ددې پېښې اصل د پيغمبر د هممهالو لپاره په خاطرو کې يا له پلرونو څخه يې له نقل کولو سره يوه منل شوې او جوته چاره وه، خو له ښاره دتېښتې او د پېښې له صحنې څخه د لېرېوالي له لامله د هغې له «کيفيته» ناخبره ول.

تاريخ ليکونکو دا پېښه ، د شپږمې ميلادي پېړۍ په دويمه نيمايي [۵۷۰ يا ۵۷۱ ميلادي] کې روايت کړې ده، [مرحوم طالقاني له خپل روڼ اندي تحليل سره د دې آيتونو تفسير، د زبرځواکونو ايران او روم له تعارضاتو سره په اړيکه کې تفسير کړی دی].

د روم امپراتورۍ پر حبشه سربېره، په پراخو سيمو کې له فلسطين او سوريه او د عربستان په شمالي او لوېديز کې د مسيحيت لپاره بنسټونه بنا کړي ول او د عربستان په سويل کې د کليساو په ودانولو سره، د سرې بحيرې په څنډو کې د نجران خلک او د يمن او عربستان تر منځ په بريد کې خلک مسيحيت ته اړولي ول، خو د حجاز [مکې] سيمه د جغرافيايي شرايطو او د دوو زبرځواکونو له اغېزه د لېرېوالي له لامله لاس ناخوړلې پاتې وه. له يوې خوا د کعبې او د مکې د ښار شتون چې د عربي لړيو او پښتونو د تاريخي باورونو مرکز او د هغوی د ټولېدو او يووالي لامل ګڼل کېده، د روم د امپراتورۍ لپاره د زغم وړ نه وو. له بلې خوا «ابرهه» د حبشې د مسيحي ټولواک بولندوی او د واک ځای ناستي په يمن کې د [اُلْقُلَّيس] په نامه يوه ستره او برمياله کليسا ودانه کړې وه او هڅه يې کوله د مکې له ويجاړولو سره، د عربو قبيلو زړونه بل مرکز ته وځکوي او د امپراتور پراختيا غوښتنو ته د ايران په سوېلي بريدونو کې پراختيا ورکړي. د مکې پر لور د پيل سپرو لښکرو لېږل، د پراختيا غوښتنې يو سياست په همدې بهير کې، او د زماني د زور او زر او تزوير په پيوند کې وو.

## د فيل سورت د لومړي آيت (۱۰۵:۱) او
## د «اصحاب الفيل» د پېښې په اړه تشريح:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ. أ يعني آيا، لَمْ تَرَ يعني ودې نه ليدل، دلته له «رؤيت» څخه موخه د هغه لغوي معنا يعني په سترګو ليدل نه دي، بلکې علمي او پوهنيز دي چې لکه د احساس په څېر له ظاهري حواسو سره څرګند او روښانه دي. او استفهام په

آیت کې انکاري دی، او معنا یې دا ده چې؛ مګر یقیني علم دې نه دی موندلی چې ستا پالونکي څښتن د فیل له اصحابو سره څه ډول چلن وکړ؛ «کَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ.» د خپل پالونکي څښتن د فعل [کړنو] کیفیت چې له پیلملانو او د پیل له څښتنانو سره یې څه وکړل؟ مخاطب یې پیغمبر دی او همدا راز هر هغه څوک چې د پیغمبر هم مهالي ول او، همدا راز له هغوی په پلیونې، راتلونکي هم.

آیا د «اصحابِ الفیل» داستان او د هاغې پېښې کیفیت چې هغوی ته پېښه شوه او هاغه ماجرا چې پر هغوی تېره شوه تا نه ده اورېدلې؟ نه پوهېږې؟ له «لېدلو» موخه دلته پر سترګو لیدل نه دي. بلکې مقصد یې د باطن پر سترګو او بصیرت او دننۍ بینایي ده. ځکه دا پېښه ټولو ته جوته وه او د پېښېدو په اړه یې په هاغه چاپېریال کې هیچا شک نه کاوه او داسې برېښېده چې ګواکې هغه لیدلي ده لکه «أَلَمْ تَرَ کَيْفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِعَادٍ». له دې سره سره «أَلَمَ تَرَ» د (ألم تعلم) په معنا هم راغلی دی.

دا لنډ، سر تړلی او مجمل، سورت، داسې یوه پېښه بیانوي چې د هاغې وخت عربانو ته څرګنده وه. دا چې وایي د کیفیت په اړه دې تحقیق نه دی کړی، له دې څرګندېږي چې قریش او غیرقریش د ماجرا په اصل پوهېدل او هغوی ته روښانه وه چې کلونه مخکې څه پېښه شوې وه، خو د هغې په اړه په توهم او انګېرنو کې اخته ول او د هغې په اړه به یې راز راز خبرې کولې. خو په عین حال کې ورته مهمه موضوع وه تر دې بریده چې هغې ته به یې «عام الفیل» یعنې د «پیل کال» ویل او د تاریخ مبداء [پَیل] یې ټاکلې وه. او هېښوونکي دا چې – هرو مرو به مو اورېدلي وي – رسول اکرم په هماغه کال کې دنیا ته راغلی دی او دا پېښه د پیغمبر له زیږېدنې سره هم مهالې وه. دا عام الفیل لکه څنګه چې مو وویل تر دې کچې د اهمیت لرونکی وو چې عربانو به له هغې مهاله وروسته، هره پېښه او واقعه د هماغه کال له مبداء سره ټاکله او ویل به یې د ساري په توګه له عام الفیل څخه شل کاله وروسته، یا پنځه کاله له عام الفیل څخه مخکې، یا پنځوس کاله له عام الفیل وروسته، سمدم لکه د مسیحیت د تاریخ مبداء چې د حضرت مسیح زېږد دی یا د مسلمانانو د تاریخ مبداء چې د حضرت پیغمبر هجرت له مکې څخه مدینې ته دی. په هر حال دا پېښه د عربانو لپاره ډېره هېښوونکي وه، خو دا چې څنګه رامنځته شوه هغوی ته روښانه نه وه.

دا پېښه له هاغې پېښې سره ورته وه چې د ايران د انقلاب په پيل کې امريکايي الوتکې ورسره مخامخ شوې هغوی هم برنامه درلوده چې تهران ته ورشي او خپل يرغمل شوي کسان آزاد کړي، چې ډېره پراخه برنامه هم وه، خو الوتکې په دښته کې د شګې او شنګېږ په توپان کې ايسارې شوې او څو الوتکې ولوېدې او ټولې نقشې او برنامې يې ګډې وډې شوې او ويې نشو کولی بر يالي شي او کوم کار پر مخ بوځي. البته امريکايانو پخپله اعلان وکړ چې د الوتکو ماشينونه نابېره له کاره ولوېدل او همدا راز خبرې.

مقصد دا چې اوس زمانه عوض شوې ده او اطلاعات د دنيا په سراسر کې خپرېږي، خو هاغه وخت ۱۴۰۰ ۱۵۰۰ کاله مخکې دا ډول نه وه او هاغه څه چې په عام الفيل کې پېښ شول په ماهيت يې څوک پوه نه شول، ځکه چې د مکې خلک ټول له ښاره بېرون وتلي او تښتېدلي ول. پر دې بنا هاغه پېښه چې د پيل اصحاب ورسره مخامخ شول په ووړېرخو او جزئياتو يې څوک خبر نه ول. خو لکه څنګه چې مو وويل د ماجرا د پېښېدو اصل ډېر زيات مشهور او پېژاندی وو او داستان يې ټولو لړوډېر اورېدلی وو.

خو اصلي ماجرا څه وه؟ «اصحاب الفيل» يا پيل والا په واقعيت کې د ابرهه لښکر ول او هغه هم د سويلي يمن بولندوی [قوماندان] وو. [يوناني پېښ ليکونکي د هغه نوم ابرامس Abrames او سرياني پېښ ليکونکي يې ابراهام Abraham ليکي ابرهه غالباً د هغه حبشي تلفظ دی مګر عربي کې يې تلفظ ابراهيم دی]. يمن د عربستان په جنوب کې د عمان او حبشې [يا ايتوپيا] تر څنګ واقع دی. دا څو سيمې ډېرې زياتې يو تر بله نژدې دي. ابرهه د حبشې د مسيحي واکمن «نجاشي» د واکمنۍ پورې تړلی د يوې مسيحي مېشتې سيمې بولندوی وو، چې پر مکې تر يرغل مخکې يې، د يمن پر حکومت لښکر کښې کړې وه او د ذونفاس په نامه د هاغه ځای يهودي واکمن ته يې ماتې ورکړې وه او غوښتل يې هلته يوه ستره مسيحي پايګاه رامنځته کړي او «القليس» [يا «اقليس»، چې په عربي سرچينو کې يې: ذوالعکس هم بللی دی] ستره کليسا يې د يمن په پلازمېنه [صنعا] کې جوړه کړې وه، چې له کعبې سره رقابت وکړي، [چې القليس د يوناني لفظ Ekklesia معرب دی او زموږ په ژبه کې کليسا هم له همدې لفظه اخيستل شوې ده.] کعبه چې د سيمې عربانو لپاره د وحدت او يووالي يوازينۍ پايګاه ګڼل کېده. ابرهه چې کله له يمن څخه د مکې پر لور حرکت وکړ، د لارې په اوږدو کې يې ټولې قبيلې ويجاړې او تار په

تـار کـړي. د ابرهـه د لښـکر شـمېر د پېښـليکونکو پـه حوالـه لـه شـپېته زرو کسـانو زيـات وو او د هغـه د لښـکر ځانګړتيـا د پِيـل سـپرو موجوديـت وو چـې څـو ډېـرو سـترو او جنګـي پيلانـو تـه بـه يـې د لښـکر وړانـدې حرکـت ورکـاوه. عربـانو بـه دې پيلانو ته «محمود» ويل چې هماغه «ماموت» په لاتيني ژبه کې دی.

په هاغه پَير کې، په لښکر کې د پيلانو راوستل دود نه ول او هيڅ مخينه يې نه درلـوده. دا پيلان يې هم له هنده راوستي ول چې تر هاغه ځايه يې نـژدې واټـن درلـود. عربـانو پـه جنګونو کې اوښان درلودل او زيات نه زيات به يې هم څو آسونه درلودل، خو په جنګونـو کې يې پيلان نه وو ليدلي او دا ډول حيوان لـه خپـل ټـول ځـواک او درونـدوالي سـره چـې لري يې، کله به چې پـه لارې روانېـدل پـه لارې کـې بـه يـې هـر څيـز نشـت او ويجـاړول او هيڅوک او هيڅ څيز يې مخ نيوونکي او خنډ نه ول.

پر دې ترتيب، د ابرهه د لښکر آوازه په هر ځای کې خپره او وېيچل شوه او طبعاً په دې کې يې اوازه او دهشت مکې ته هم رسېږي او عربو قبيلو هم چې د دا ډول لښکر پر وړاندې مقاومت ورته بې ګټې برېښېده، فرار يې پر قرار غوره وګاڼه. خو له دې مخکې، عبدالمطلب، د پيغمبر نيکه، چې د مکې مخور او د قريشو د قوم مشر پېژندل کېده، له يو شمېر خپلو زامنو او ملګرو سره، ابرهه ته ورځي او د يرغل لامل ترې پوښتي او هغه ورته وايي موږ تاسو پورې کار نلرو او يوازې د کعبې د ويجاړولو لپاره راغلي يو. که تاسو له موږ سره جنګېدل نه غواړئ، موږ هم له تاسو سره جنګ نلرو. او عبدالمطلب ته ډېر درناوی کوي او ورته وايي که له ما کوم څيز غواړې ووايه. او عبدالمطلب هغه ته وايي چې زما دوه سوه اوښان ستا سرتېرو نيولي دي، خپلو سرتېرو ته امر وکړه چې زما اوښان بېرته راکړي. چون د ابرهه لښکر په لارليکه کې د ټولو قبيلو هر څه شته او مالونه چې مخې ته ورغلي ول قبضه کړي او لوټ کړي ول.

ابرهه د عبدالمطلب له غوښتنې ډېر تعجب کوي او ترې پوښتنه کوي چې سره له دې چې ته پوهېږې زه د کعبې، يعنې ستا د پلار او نيکونو د کور د ړنګولو لپاره راغلی يم، چې په واقعيت کې ددې سيمې ټول ماهيت او پېژندګلوي ده، او ته له دې حال سره سره له هغه سره څه کار نلرې او د اوښانو د بېرته اخيستلو لپاره دې ماته راغلی يې؟ عبدالمطلب ځواب ورکوي چې زه مې د خپلو اوښانو خاوند يم او ددې کور خاوند نه يم. دا کور خپل خاوند لري او خاوند به يې پخپله ترې ساتنه وکړي.

مکې ته تر بېرته ستنېدو وروسته عبدالمطلب له قريشو او د مکې له ټولو خلکو غواړي چې له خپلو کورونو راووځي او د شاخوا غرونو په غارونو کې او د ډېرو شاته پناه واخلي. پخپله هم د خپلو ځينو ملګرو سره د کعبې مخې ته راځي او دعا کوي او د ځينو روايتونو په نقل دا شعر وايي:

لا هُمَّ أِنَّ الْعَبْدَ يَمْنَعُ رَحْلَهُ فَامْنَعْ رِحالَکَ
لا يَغْلِبَنَّ صَلِيْبُهُمْ وَ مَحالُهُمْ أَبَدًا مَحالَکَ
أِنْ کُنْتَ تارِکُهُمْ وَ قِبْلَتَنا فَأَمْرُ ما بَدا لَکَ

«اى خدايه، هريو بنده له خپل کور او مال څخه دفاع کوي، ته هم له خپل کور او ماله دفاع وکړه. خدايه ددوى توغ او ځواکونه هيڅکله ستا پر ځواکونو نه بريالي او نه برلاسي کيږي. که ته هغوى زموږ د قبلې په ړنګولو او ويجاړولو کې خوشې او آزاد پرېږدې، دا داسې يو کار دى چې هيڅکله تا نه دى کړى.»

ابن جرير هم له عبدالمطلب څخه ځينې شعرونه نقل کړي دي چې د دعا کولو پر مهال يې ويلي دي: يا ربِّ لا أرجُو لَهُمْ سِواکا يا ربِّ فامنعَ منهُم حِماک
أنّ عدوّ البيت مَنْ عاداک أِنَّهُمْ لم يقهروا قُواکا

«اى زما ربه له تا پرته مې د هغه په مقابل کې له هيچا تمه او اميد نشته، اى زما ربه له هغه څخه د خپل کور اوحرم حفاظت او ساتنه وکړه. ددې کور دښمن ستا دښمن دى، د خپل کور له ړنګولو د هغه مخنيوى وکړه». په واقعيت کې د ابرهه له شره الله ته پناه وروړې چون پوهيږي دداسې ځواکمن لښکر پر وړاندې هغه هيڅ نشي کولى، او بيا له ښاره خارجيږي، او لکه د نورو خلکو په څېر له خپلو ملګرو سره غره ته پناه وروړي. له دې ځايه وروسته هيڅوک شاهد او ناظر نه ول چې نقل وکړي او د پېښې جزئيات شرحه کړي چې دا پېښه په څه طريقه او کيفيت رامنځته شوه.

اوس ددې پېښې متن ته ډېر ورداخلېږو او ځينې تاريخي پېښې څېړو چې ووينو اصل ماجرا څه وه او ولې پېښه شوه؟

لومړنۍ پوښتنه داده چې ابرهه ولې غوښتل کعبه ويجاړه کړي او له منځه يې يوسي؟ که د هغې زماني سياسي جغرافيې ته پاملرنه وکړو، وينو چې په هاغه پېر کې له دوو زبرځواکونو زياتو شتون نه درلود، يو له دې زبرځواکونو ايران او بل يې هم ختيځ روم وو، چې ختيځ روم همدا اوسنۍ ترکيه ده. دا دوه زبرځواکونه، لکه زموږ په زمانه کې د

پخواني شوروي جمهوریتونو اتحاد او امریکا په څېر، نړۍ يې په خپلو منځونو کې ویشلې وه او پیړۍ پیړۍ يې واکمني او یو تر بله سیالي درلوده، یعنې تل به ددوی په منځ کې جنګ وو چې کله به دا بریالی کېده او کله هاغه.

د اسلام پیغمبر هم کله چې واک ته ورسېدل او د اسلام بنسټ کلک شو، هر دواړو سترو واکمنانو ته يې لیکونه واستول، چې پر بهیر يې پوهېږئ: د ایران ټولواکمن، خسرو پرویز، د پیغمبر لیک څیري کړ او د روم ټولواکمن، ددې پر عکس، له خپلو درباریانو سره مشوره او غور وکړ او سره له دې چې بلنه يې و نه منله، خو توند او ناوړه چلند يې څرګند نکړ. لکه څنګه چې اوس هم وینو [تر همدې څلوېښت پنځوس کاله مخکې پورې] جهان پر دوو قطبونو ختیځ او لوېدیځ وېشل شوی وو، یعنې شوروي روسیه او امریکا هر یو د ځان لپاره اقمار درلودل او ځینې له اسلامي هیوادونو لکه سوریه او افغانستان د شوروي تر حمایت او پلوي لاندي ول او د هغه د وسلو او تجهیزاتو واردوونکي ول او ځینې هم لکه اردن، ایران [تر انقلاب مخکې]، پاکستان او مصر، د امریکا پر طرف ول او د هغه له لورې يې حمایت او ملاتړ کېده، په هاغه موقع کې هم همدا راز ځېنې د روم د امپراتورۍ تابع ول او ځینې نور د ایران د امپراتورۍ تابع ول. مثلاً د «حیره» سیمه، یعنې همدا اوسنی عراق، او په ټولیزه توګه عربان د ایران تر لاس لاندي ول.

شاهپور ذوالاکتاف، د ایران ټولواک – چې نوم يې مشهور دی – له دې لامله يې دا لقب درلود چې کله به پر عربانو غوسه کېده نو د هغوی د وولو [کتف] هډوکی به يې سوری کاوه او د هغې له منځه به يې پړی تېراوه. پر دې ترتیب پېړۍ پېړۍ يې د ایرانیانو تر ظلم او فشار لاندې ژوند کاوه او د ایرانیانو اسیران او غلامان ول.

د روم حکومت، حبشه [اوسنۍ ایتوپیا]، او یمن او په ټولیزه توګه د عربستان شمالي او لوېدیزه برخه مسیحیان کړي ول او د کلیسا دستګاه پر دې سیمو واکمني او برلاسی درلود، خو د ایران پر لور يې لار نه درلوده او که د بحر له لارې يې هم غوښتل پر ایران یرغل وکړي، باید ډېر واټن يې واهه. نو پر دې بنا دې نتیجې ته رسېدلي ول چې که وکولی شي د عربستان صحرا او دا ټاپووزمه تر خپل نفوذ او واکمنۍ لاندې ونیسي، په حقیقت کې يې ایران تر کلابندۍ لاندې نیوو، چون شاوخوا سیمې ټولې د مسیحیت تر نفوذ او اغېز لاندې وې، خو دې خوا، مکه له هماغه مهاله چې ابراهیم هلته کعبه ودانه کړې وه، د عربانو د ځواک په پایګاه او د هغوی د معنویت پر مرکز بدله شوې وه. له دې

ټولو سره سره، په ټاپووزمه کې به کله ناکله د جنګ اور لګېده او دې سیمې به ډېرې په نا آرامۍ کې وخت تېراوه.

لکه څنګه چې پوهېږئ، عربستان د درېو لویو وچو تر منځ واقع دی: آفریقا، اروپا او آسیا. او هم دا چې د منځني ختیز او بین النهرین سیمه چې په بنسټیزه توګه د نړۍ د تمدن زانګو ده او ټول ستر تمدنونه له فنیقیانو تر بابلیانو او نورو آسیایي تمدنونه، په دې سیمه کې څرګند شوي دي. خو په دې سیمه کې د عربستان اوېجه تل ایزوله، جلاشوې او بې اړیکې پاتې شوې ده، ځکه چې ددې سیمې یو لور ته سره بحیره او بل لور ته یې د پارس خلیج او د عمان بحیره ده، او د شمال له لورې هم د مدیترانې په بحیرې پورې نښتی دی؛ یعنې عربستان له درېو لورو په دریاب پورې نښتی دی. خپله اوېجه یې هم ډېره وچه او سوزوونکې بې اوبو او بې ونو ده چې تر هغې مهاله یې نه کوم ښار درلود او نه کوم مدنیت. یو شمېر خپرو ورو او لږ شمېرو قبیلو چې پکې ژوند کاوه چې هرې یوې یو تر بله پنځوس تر سلو میلو واټن درلود او هرې قبیلې د ساري په توګه ۵۰۰ تر ۶۰۰ کسانو ټولنه درلوده. دوی هم هر مهال به چې وچکالي کېدله او ژوند به پرې سختېده، پر نورو قبیلو به یې یرغل کاوه او هغوی به یې لوټل. په ساراکې د ژوند سختو شرایطو له هغوی د متضادو خصلتونو والا وګړي جوړ کړي ول؛ هغوی هم یو شجاع، زړور، آزادي پالی، او رډ بې پروا، غیرتمند او ځوانمرد قوم وو، او هم په عین حال کې سخت، زیږه، لواړ، وحشي، بې تهذیبه او له تمدنه لېرې ول.

یوازینی معنوي مرکز چې دوی یې پخپلو کې متحد کول همدا د کعبې خونه وه. دا خونه — چې په تاریخ یې پوهېږو — د آدم له مهاله بنا شوې ده او ورو ورو مخ په ویجاړۍ تللې، تر دې چې حضرت ابراهیم هغه بیاځلي ودانه کړه او له خپل پالونکي څښتنه یې وغوښتل چې «رَبِّ اجْعَلْ هَـذَا بَلَدًا آمِنًا» پالونکی څښتنه، دا ځای د امن ښار وګرځوه. او د حضرت ابراهیم په دعا، په دې اوېجه کې، چې هیڅ کوم امنیت یې نه درلود او دلته مېشتو کسانو به د لوټمار، جنګ او وینو تویونو په حال کې ژوند کاوه، مدنیتي مرکز او اډه رامنځته شوه. او بیا د هغه بله دعا هم، د الله په درشل کې منل کېږي چې «وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ [بقره ۱۲۶(۲:۱۲۶)] پالونکی څښتنه، ددې ځای خلک له روزۍ برخمن کړه، او همدا راز د هغه بله دعا هم چې خدایا د ځینو خلکو زړونه د هغه لور ته ورمات،

متوجه او په خير کړه. نو، ابراهيم ړومبی له خدايه غواړي چې د مکې خلک له لوټمارۍ لاس واخلي او دويم داچې په کافي کچې له دنيا برخمن شي او په پای کې دا چې د يو شمير کسانو زړونه هم د خدای کور ته جذب شي او د هغه لور ته مخه کړي. او هر درېواړه هم تحقق او رښتينوالی مومي.

له حضرت ابراهيم وروسته، لومړی زوی يې، اسماعيل، او ورپسې د هغه زوزات د کعبې څارنې او پالنې ته ولاړ ول او دا کورنۍ، چون خلکو ته يې د چوپړ موخه درلوده او په پرهېزګارۍ کې يې ژوند کاوه او د خلکو د ايمان او امنيت ساتونکي ول، د خلکو له ډېر درناوي او محبت لاندې ول او نه چا له هغوی سره د جنګ موخه درلوده او نه هغوی له چا سره جنګ درلود. په واقعيت کې د عربو قومونو دا کورنۍ د ځانونو لپاره د اخلاقو ښوونکي او د خپل آيين سرلاري ګڼل. څو پېړۍ وروسته چې د قريشو قبيله د هغوی له نسله رامنځته کېږي، هغوی هم دا اعتبار پيدا کوي او د اسلام د ظهور پر مهال، عربو خلکو، مکې او کعبې ته د خدای پالنې او د ايمان او هدايت او نمانځنې د مرکز په سترګه کتل، تر دې چې په کال کې څلور مباشتې يې د حرام مباشتو په توګه په نښه کړې او اعلان کړې وې، يعنې که د هغوی تر منځ د جنګ اور بلېده، هاغه څلور مباشتې به يې له جنګه لاس اخيسته او په ديني او مذهبي رسمونو اودودونو به بوختېدل.

د مکې څېره هم ورو ورو په هغه کې د اقتصاد له بنې نيولو سره بدله شوه او پر تجارتي او د راکړې ورکړې پر مرکز بدله شوه او يو ډول مکاره بازار [موسمي لنډ مهالی بازار] جوړ شوی وو، لکه د همدغو بازارونو په څېر چې په وسمهال نړۍ کې يې وينو. د ټاپووزمې خلک هر کال، په ځانګړې توګه د حج په ورځو کې [چې تر اسلام مخکې هم يو لړ مراسم د هغه لپاره عملي کېدل] په مکه کې راټولېدل او خپل توکي يې يو تر بله تبادله کول. همدا چار، د مهال په تېرېدنه او د وخت په اوږدو کې په سيمه کې د امنيت د ګومارنې لامل شو او قبيلې يې پرله پسې يو له بل سره په اړيکه د جنګ او تېښتې په حال کې يو تر بله راګرځې کړې، او له دې لارې پر عقيدتي يووالي سربېره د هغوی د يووالي مرکز او د هغوی تر منځ يو بل ايتلاف بڼه ونيوله، چې په اقتصاد او تجارت پورې يې اړه درلوده.

د ابراهيم موخه او دعا هم لکه څنګه مو چې مخکې ورته نغوته وکړه، همدا وه چې له امنيته برخمن يو ښار هلته رامنځته شي. چې البته وروسته بيا د ټاپووزمې وګړو، له

جنوب سره، يعني له اوسني عمان سره تجارت پيل کړ، او په ژمو کې، چې هوا به په هغو سيمو کې بهتره وه، هلته به تلل او پير او پلور به يې کاوه او بيا به مکې ته بېرته ستنېدل؛ په دوبي کې به هم شمال ته تلل، شامات ته چې همدا اوسنۍ سوريه او اردن دي.

نو، په واقعيت کې مکه د عربستان د شمال او جنوب ترمنځ د اړيکې کړۍ وه. د قريشو او د مکې د خلکو ژوند ډېرى د تجارت له لارې تېرېده چې ډېره ګټه يې هم هغوى ته درلوده او کېداى شي ووېل شي په حقيقت کې مکې د اوسنۍ دُبۍ په څېر يو موقعيت درلود او د داسې يو تجارتي مرکز بڼه يې موندلې وه، يا د ساري په توګه د ورېښمو په واټ کې د پخواني ايران او افغانستان موقعيت ته ورته وو، يا د سبا او حضرت سليمان اوېجه په پخواني پېر کې. په دې ترتيب د قريش قبيله ورو ورو شته منه کېدله او لکه څنګه مو چې ووېل سنتو او خلکو ته د چوپړ مخينې د هغوى موقعيت نور هم ټينګاوه.

قريش هم پر دوو څانګو وېشل کېدل، يوه يې بني هاشم او بله يې بني سفيان وه چې بني سفيان والا د بني هاشم د ښه والي په کچه نه ول. په هر حال کې، په عام الفيل کې، کومه پېښه چې د ابرهه لښکر ته واقع کېږي د قريشو موقعيت او پوړ نور هم پورته وړي او محبوبيت يې له مخکې نور هم زياتېږي.

ابرهه غوښتل چې همدا مرکز له منځه يوسي. چون مکه د عربانو د يووالي په لامل بدله شوې وه. او ابرهه غوښتل هغوى مسيحي کړي او له دې لارې د ايران د شاوخوا ټوله سيمه د مسيحيت تر ولکې لاندې راوړي چې پر ورانديې يې کوم څواک نيغ نه شي او له سيالۍ پرته د يوازېني څواک په توګه وپېژندل شي.

پوهيږو چې اصولاً د مسيحيت جهان، له هاغه لومړني پير پرته، تل له خپل ځانه په باهر نړۍ کې نبواکګر او ښکېلاکګر څواک دى او تبليغ کوونکي ډلې يې، چې د تبشيري او ميسيونري ډلو په نامه مشهوري دي د هيوادونو د ښکېلاک لپاره د لارې اواروونکي دي. له الجزايري انديالو څخه د يوه په وينا، ښکيلاک هيڅکله په پيل کې له توپ او ټوپک سره نه ننوځي، بلکې تل يې لومړى کشيشان او مذهبي تبليغ کوونکي ليږل او لاره يې د هغوى لپاره پرانېستله. هغه وايي ړومبى چې زموږ اوېجې ته راننوتل موږ څمکه درلوده او هغوى کتاب، خو لږه موده

تېره نشوه چې پرعکس بنه اوښتې شوه: مورږ کتاب درلود او هغوی څمکه درلوده. دا لیکوال د ښکېلاک په اړه په زړه پورې بحث لري. په هر حال کې، د تاریخ په ګواهۍ، په هیوادونو کې د ښکېلاک ننوتلو او نفوذ په هماغه طریقه، بڼه نیولې ده چې دې لیکونکي وبیلي دي؛ یعنې څرک ورکوونکي، مخکښان او درشل جوړوونکي یې د مسیحیت تبلیغاتي جوړښت دی چې راتلل او د پښې اېښودو ځای به یې برابراوه او لار یې پرانیستله او ورو ورو به یې د سیستم تغیرولو ډګر سموه او وروسته ورپسې به یې پوځي او نظامي ځواکونه راتلل. که د مختلفو هیوادونو د نیواک او ښکېلاک تاریخ ولولئ، په هر ځای کې یې په همدې ډول هیوادونه ښکېل کړي دي.

ښه، اوس د سورت متن ته ورګرځو. أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ.
أ یعنې آیا، لَمْ تَرَ یعنې ودې نه لیدل كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ. د خپل پالونکي څښتن د فعل [کړنو] کیفیت چې له پیلملانو او د پیل له څښتنانو سره یې څه وکړل؟ لومړی دا چې وایي کیف فعل ربک او د فعل کیفیت او څرنګوالی «رب» ته او نه الله ته نسبت ورکوي، ددې معنا یادوونکی دی چې یوازې رب [پالونکی څښتن] دی چې د ټولو سرور او ارباب دی او د خدای تعالی د ځواک او ارادې شمول چې پر ټول عالم او کایناتو واکمن دی، ذکروي. خو دا چې د ابرهه له لښکره پر «اصحاب الفیل» تعبیر شوی دی ښایيږي چې د «اصحاب» د کلیمې په اړه چې په ډېرو ځایونو کې په قرآن کې راغلې توضیح ورکړل شي چې مخکې مو هم ورته نغوته کړې.

په قرآن کې د ساري په توګه «اصحاب کهف» ویل شوي، یعنې هاغه کسان چې اوږد مهال یې په غار کې ژوند تېر کړی دی. په ټولیزه توګه، د چا اصحاب یا د څه شیز اصحاب یعنې هاغه کسان چې له هاغه کس یا له هاغه شیز سره اړینه ملتیا لري او په اصطلاح له هغه کس یا شیز سره یې جوش خوړلی دی او د هاغه کس یا شیز په نامه پېژندل شوي دي، او په یو تعبیر، تکیه ځای [داړ ځای] یې شوی دی. د کهف اصحاب په دې نامه وپېژندل شول چون په «کهف» [غار] کې یې پناه واخېسته او ډېر مهال له غاره مل او اړین شول. یا «اصحاب حجر» د عاد قوم ته اشاره ده چې د غرونو په منځونو کې به یې کلکې ودانۍ جوړولې. یا «اصحاب ایکه» هاغو کسانو ته اشاره ده چې په ګڼو ځنګلونو او

زرغونو او ښیرازو سیمو کې مېشت ول؛ یا «اصحاب مَدَین» هاغه کسان ول چې د ښار او مدنیت خاوندان ول؛ یا «اصحاب جنّت» چې بڼوالان ول. دلته هم لـه «اصحاب فیل» څخه موخه د ابرهه لښکر دی چې لـه فیل سره مل ول او هغوی پر خپل او د پیلانو پر ځواک ډېر غره او ډاډه ول.

---

**أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ﴿۲﴾**

آیا د هغوی ټکماري [چل ول او دسیسه] یې ورشنلېده نکړه؟[۳]

**وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ﴿۳﴾**

او پر هغوی یې [آسمان ته] توغول شوي غونډېونه ډلې ډلې [له وریځو سره پییل شوې، داغ ویلي شوي توکي] و نه لیږل؟[۴]

| أَلَمْ يَجْعَلْ | كَيْدَهُمْ | فِي تَضْلِيلٍ | وَأَرْسَلَ | عَلَيْهِمْ | طَيْرًا | أَبَابِيلَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| آیا هغه و نه ګرځوله | دسیسه (چل ول) د هغوی | شنلېده [تباه] | او ولیږل | هغوی ته | الوتونکی | ډلې ډلې |

---

۳ـ د کید معنا پټې طرحې، تدبیرونه او نقشې دي چې د دښمن پر ضد کارولې کیږي. که د هدایت معنا مقصد ته لارښوونه او موخې ته رسېدل دي، ضلالت معکوسه معنا لري. د کافرانو د ټکمارۍ او چل ول د نقشو «فی ضلال» والی د هغوی له جوتې ماتې خبر ورکوي، لکه څنګه چې د موسی او بني اسرائیلو پر ضد د فرعونیانو نقشې له ماتې سره پای ته ورسېدې. د غافر په سورت کې [۲۵آیت(۴۰:۲۵)] راغلي دي: «وَمَا كَيْدُ الْكَافِرِيْنَ اِلَّا فِي ضَلَالٍ»، خو «تضلیل» [د تفعیل په باب کې] په پرله پسې او تصاعدي بېلارۍ او ناسمۍ دلالت کوي. الهي «کید» محکم او متین دی [اعراف۱۸۳ (۷:۱۸۳) او قلم ۴۵(۶۸:۴۵)] او د کافرانو او شیطان صفتانو «کید» سُست او ضعیف دی. [انفال۱۸ (۸:۱۸) او نساء۷۶(۴:۷۶)].

۴ ــ د «طَیراً» کلیمه نکره ده او په آسمان کې پر یو ډول حرکت دلالت کوي. «ابابیل» د ډلې ډلې، ټولي ټولي او غونډ په معنا د هغه حالت یا توصیف دی. پوهېږو چې د اورشیندي ویلي توکي لکه د الوتونکو په څېر، تر ډېر واټنه حرکت کوي او د اور شیندي له خولې د ویلي توکو پرله پسې په متناوبه بڼه یو د بل تر څنګه راوتل، ډلې ډلې حالت لري. د آرتزین د څاه په څېر.[آرتزین هغه څاه ده چې د درې لـه دوو اړخونو د فشار لـه لامله اوبه د څاه له خولې فوران کوي] مرحوم دوکتور یدالله سحابي د مکې د چاپېریال د غرونو په اړه په جغرافیایي اوضاع او ځمکپېژندنه کې ژوره مطالعه کړې ده او دا پېښه یې په علمي بڼه د اورشیندي له اغېزو ګڼلې ده.

## د فیل سورت د دویم او دریم [(۱۰۵:۲) او ۳] آیتونو تشریح:

أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ. آیا د هغوی کید او نیرنګ خدای تعالی خنثی نکړ؟ یعنې چل ول او پلان یې خنثا او بې پایلې، بې نتیجې، بې مقصده او بېهوده نکړ؟ له کید څخه مراد د هغوی هاغه بدنیّتي او بده موخه وه چې د مکې په اړه یې درلوده او غوښتل یې بیت الحرام ړنګ کړي، او د «تضلیل» او «اضلال» هر دواړه کلیمې یوه معنا لري، او د هغوی کید په تضلیل کې کول، په دې معنا دی چې د هغوی نقشه یې لکه د اوبو پر مخ د نقش په څېر کړه، ټولې هڅې یې ورته بې پایلې کړې، هغوی رهې شوې ول چې کعبه ړنګه کړي، خو د الهي تضلیل په پایله کې، هغوی پخپله هلاک او نشت شول.

لکه څنګه مو چې وویل؛ «کید» یعنې نقشه، طرحه او پلان چې یو څوک یا یوه ډله وغواړي د خپل دښمن پر ضد یې اجراء کړي. په بله وینا، هرې دسیسې، چل ول، پلان او توطيې ته «کید» ویل کېږي. البته «کید» کله ښه او مثبته معنا او مفهوم هم افاده کوي. د ساري په توګه کوم ځای کې چې کید، خدای تعای خپل ځان ته نسبت ورکړی دی او وایي «إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ.» [اعراف ۱۸۳ (۷:۱۸۳)] زما «کید»، یعنې زما تدبیر، کلک، ټینګ او ټیکاو دی. په هره بڼه، د مسیحیت د نړۍ کید او توطیه چې غوښتل یې ټوله سیمه لکه څنګه چې مخکې مو ورته نغوته درلوده، د ختیځ روم د ټولواکمنۍ تر نفوذ او د مسیحیت تر پوښښ لاندې وګوماري او له دې کار سره د حضرت ابراهیم پخوانۍ او معنوي پایګاه له منځه یوسي، ټول له یو مخې مات شو او ناپایه پاتې شو؛ د هغوی کید په «تَضْلِيل» کې واچول شو او تباه شو. «تَضْلِيل» د تفعیل باب د «ضَلّ» له مادې د ضلالت او لارورکۍ په معنا دی. ضلالت د هدایت مقابل مفهوم دی.

دلته یوه نغوته کول اړین دي چې «هدایت» «راهنمایي یا لارښوونه» ترجمه کوي، چې سمه ترجمه نه ده. «هدایت» یعنې [پر لار بوول، رهبري او مقصد ته رسول] دي. «تضلیل» د هدایت عکس دی: یعنې بېلارې بوول او بې پایلې کول او مقصد ته نه رسول او د چا د هڅو بې بېبرې کول دي. فرمایي آیا هاغه طرحې او توطيې خدای تعالی خنثا نکړې، داسې چې ثمر او بېبره یې ور ونبښله او خپل مقصد ته ونرسېدل. دا موضوع په قرآن کې په ځلونو یاده شوېده. د ساري په توګه

وايي «إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا.» [نساء ۷۶ (۴:۷۶)] د شيطان کيد په ټوله کې ضعيف او سست دی. يعنې هاغه نقشه او طرحه چې بنسټ يې شيطاني دی، سره ددې چې په لنډه موده کې کېدی شي لنډمهالي پايلې راوړي، خو په اوږد مهال کې به هيڅ کار پر مخ بونځي او مقصد ته به يې ونرسوي.

يا وايي «وَ أَنَّ اللّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ.» [انفال ۱۸ (۸:۱۸)] او په حقيقت کې الله تعالى د کافرانو او د هاغو کسانو د کيد او نقشې سستوونکی دی چې حقيقتونه پټوي. يا دا چې وايي: وَ أَنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ. [يوسف ۵۲(۱۲:۵۲)] الله تعالى د خاينانو کيد او نيرنګ کوم ځای ته نه رسوي. همدا راز د حضرت يوسف په داستان کې وينو چې د هغه ورونه او نور، پرله پسې د هغه پر ضد توطيې کوي، خو خدای تعالى د هغوی کيد بې اغېزې کوي او په پای کې هغه [حضرت يوسف (ع)] برياله او بر لاسی کوي.

دلته هم هماغه درس ورکوي چې که د ايمان د مرکز د نابودولو لپاره داسې پراخه توطيه د دنيا په هاغه نقطه کې ناکامه شوه، په تاريخ کې د دين او واقعي ايمان او واقعي مؤمنانو پر ضد نورې توطيې هم همدا راز ناکامېږي.

وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ. او پر هغوی يې الوتونکی ولېږه، او د «ابابيل» له کليمې څخه موخه مختلف ټولي، غونډونه او ډلې ډلې ده، او معنا يې داده چې خدای تعالى ډله ييز الوتونکی د هغوی پر سر ولېږه. چې ځينو ويلي مرغان ول او «ابابيل» يې نوم وو – چې په اړه به يې توضيح ورکړل شي –

مخکې له دې چې دا آيت تشريح کړو بې ځايه به نه وي چې تر يوې کچې د مکې د جغرافيايي وضعې په اړه توضيح ورکړو. د مکې سيمه په ټوله کې غرنۍ ده؛ د ويلي توکو [لاوا] ډېرو او اورشيندو دا سيمه احاطه کړې ده او هغوی ټول د اورشېندۍ مخينه لري. د لوط قوم هم تصادفاً په همدغه سيمه او د مکې څرمې کې ژوند کاوه. په قرآن کې څو آيتونه شته چې د لوط د قوم پېښې او ماجرا او ډېراورښت او ډبر وژنې ته نغوته لري. د ساري په توګه؛ «وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ.» [صافات۱۳۷ (۳۷:۱۳۷)] تاسو، ای قريشو، ګهيځونه د هاغه قوم پر کنډرو تېرېږئ او د شپې ببره ستنېږئ. يعنې د لوط قوم په هماغو د مکې څرمې کې استوګنه درلوده. دغې سيمې، په تېره کې، اورشېندنې ته چمتو ډېر غرونه درلودل او اوس هم ټوله سيمه د کلکو شوو ويلي توکو [لاوا] تورو ډبرو پوښلې

ده. او اصلاً هلته کابو هيڅ رسوبي او خاورينې ډبرې شتون نلري هاغه کسان چې مکې ته مشرف شوي له نژدې يې ليدلي دي. حضرت ابراهيم چې خپله مېرمن او زوی هلته بوتلل وايي: «رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ» [ابراهيم ۳۷(۱۴:۳۷)] پالونکی څښتنه، ما خپل زوزات او کورنۍ په داسې سيمه کې چې د کر کيلي وړتيا نلري او په دې وچه، بې اوبو او بې وښو وچه بياباني توده او سوزوونکي سيمه کې مې ځای ورکړ، چې هلته د توحيد مدرسه ودانه او پر پښو ودروم.

د «الم تر ... الم يجعل ...» له تقريري او تحقيقيي استفهامه دا څرګنديږي چې د «اصحاب الفيل» نښتاند او د هغوی د «کيد» [چل ول] او د نقشې له منځه تګ جوت وو او مخاطبينو پرې اقرار کاوه. او د «ارسل عليهم ...» له خبره داسې بريښي چې له دې آيته مخکې او وروسته آيتونو کې د الوتونکي لېږل او د هاغې وسيلې څرنګوالي چې هغوی يې له منځه يوړل مجهول يا مبهم دی، او وروسته له هغې ددې پېښې په اړه چې ناقلينو هر څه ويلي د همدې آيت په ظاهر او ښکاره بڼې استناد کوي. او څرنګه چې دهاغه الوتونکي، له جوپه جوپه لېږلو «ارسال» پرته، هيڅ نوم او نښه، په آيت کې نه ده راغلې، ځينې مفسرين چې ګواکې ځانونه به يې اړمن او ناچاره لېدل چې ښايي په ټولو قرآني مسئلو کې د نظر څرګندونه وکړي، په خپل خيال او انګېرنه يا د هاغو کسانو د تخيل له نقل کولو چې ځينې مبهم څيزونه يې له لېرې ليدلي ول، د هغه لپاره يې مرغان انګېرلي او ځينې صفتونه يې ورته نقل کړي دي، د بېلګې په توګه:

ابن عباس وايي چې مښوکي يې د مرغانو په څېر او پنجې يې لکه د سپو په څېر وې. ربيع وايي: د پنجو څوکې يې لکه د داړونکو ځناورو په څېر وې. سعيد بن جبير وايي: د مښوکو لرونکي شين رنګي مرغان ول. عبدالله بن عمير او قتاده وايي: تور رنګي بحري مرغان ول چې په خپلو مښوکو او پنجو کې يې يو ډول تيږې درلودې. او هم وايي چې: دا ډول مرغان نه تر دې مخکې ليدل شوي ول او نه تر هغې وروسته وليدل شول او دا راز نور صفتونه. الله اعلم.

نو په هاغه څه کې چې له پخوا راهيسې د «اصحاب الفيل» په اړه نقل شوي د هغوی د هلاکت عمل يې يو شمېر مرغانو ته نسبت ورکړی چې ګواکې د خپلو مښوکو په توسه يې تېزې تيږې لېږدولې او د ابرهه د سپاهيانو پر لوړي پر نښو

ايشتلو سره د هغوی د هلاکت لامل شوي دي. ددغه الوتونکي د ډول او اندازې، رنګ او بڼې په اړه لکه څنګه مو چې ورته نغوته درلوده؛ له پخوانيو څخه خپاره واره او راز راز قولونه نقل شوي دي چې د لومړنيو ناقلينو پر توهماتو، انګېرنو او خيال پردازيو دلالت کوي. چون هيڅوک د پېښې شاهدان نه ول، هاغه څه چې ويل شوي داسې برېښي چې له لېرې انګېرنې او ذهني توهمونه ول چې له طبيعي واقعيتونو او د مرغانو له بدني ځواک سره هيڅ تناسب نلري، مګر دا چې هغه غير عادي معجزه وګڼو. اصولاً تر ټولو درنده تيره چې يو مارغه لکه مرغۍ، توتکۍ يا شامتوره کولی شي ولېږدوي، په دې کچه نه ده چې انسان خو پرېږده ان تر دې چې د سترو پړو، ځاندرو او جثو والا جنګي پيلان هم لکه د ژول شوو بوسو په څېر چيت او ميده کړي.

ستر مارغان لکه عقاب [ګورېت] چې ډېر ځواک او ستره منبوکه لري، ځانله او له نورو بېل ژوند لري او په ډله ايزه توګه ژوند او الوت نه کوي ــ همدا راز کومې انګېرنې چې د ځانګړو مرغانو په اړه هم شوي دي يو هم ددې وړتيا نلري چې د هاغو سترو ځاندرو والا پيلان داسې دړي وړي او ويجاړ کړي. پر دې بنا دا نشي کېدای چې «طيراً» ابابيل اوسي. ځکه چې د ابابيل معنا ډلې ډلې، جوپه جوپه او خيل خيل ده. له دې سره سره په خپله منبوکه کې د اورنۍ ډبرې [سجيل] لېږدول د مارغانو له طبيعي جوړښت سره چې د تودوخې په اړه حساس دي ناشوني دي. که دا ناليدلي هم ونيسو بايد يوې بنسټيزې موضوع ته ځير شو هغه دا چې په اړوندو آيتونو کې له «طير» څخه خبره شوې ده نه «طيور»! هغه هم ځانګړی «طير» چې په نکره بڼه راتلل يې پر غير متعارف والي او ناپېژند توب دلالت کوي.

که وکولی شو پخپله له قرآن څخه د پېښې د پېژندنې لپاره چې رامنځته شوې ده مرسته وغواړو اود آيت له آيت سره د تفسير په طريقه عمل وکړو په ډاډينه توګه به تر ټولو ډاډه او اطمناني پېژندنې ته ورسېږو. له نيکه مرغه ددې آيت بېلې بېلې کليمې لکه «طير»، «سجيل» او «ترمی» په نورو آيتونو او سورتونو کې هم کارول شوي دي چې هغوی ته په رجوع کولو سره کولی شو د موضوع په اړه ژورې پوهې ته نژدې شو.

په پيليزه توګه د «سّجيل» له کليمې پيل کوو چې پر دې آيت سربېره، د هود او حجر په سورتونو کې، د هاغه تيږو په عنوان ترې يادونه شوې، چې د لوط د قوم پر سر اورېدلي دي. لاندينيو آيتونو ته پاملرنه وکړئ:

فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ. مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ. [هود ۸۲(۱۱:۸۲) او ۸۳] نو کله چې زموږ فرمان ورسيد، هاغه [اوېجه] مو لاندې باندې کړه او پر هغوی مو د [اورشيندي ويلې توکو] پخو کانو اورښت پرله پسې [= د ځپو په څېر] و اوراوه. [هاغه عذاب] ستا د پالونکي څښتن په نزد نښه شوی [= موخه ييز او د هغوی له کړنو سره په اړيکه، نه نابېره] وو او دا [ډول سرليک] له ظالمانو لېرې نه وو.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ. فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ. إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ. [حجر۷۳ (۱۵:۷۳) تر ۷۵]. نو د لمر ځرک سره سم [د خپلو کړنو په پايله او غبرګون کې] سختې کړيکې [= د چاودنې ځپې] هغوی ونيول. هغه مو [دځمکلانديو ويلو توکو د ويجاړوونکي ځواک په توسه] لاندې باندې کړ او پر هغوی مو د کلکې شوې ختې [= د اورشيندي ويلې توکو] ډبرې و ورولې. بېشکه په دې [عبرتناکې پېښه] کې حق پلټونکو [او حقيقت پالو] لپاره نښې دي.

قرآن د لوط د قوم عذاب له چاودون وزمه[سخت او ستر غبرګ] سره تعريف کړی، چې په توسه يې ځمکه لاندې باندې شوې او د هغوی پر سر د تيږو «سجّيل» يو باران اورېدلی دی. پر دې بنا دغو دوو آيتونو ته له پاملرنې سره پوهېدی شو چې «سجّيل» اورنۍ تيږې دي چې د ويلو شوو توکو له کلکېدو رامنځته شوې دي. او يوازې د غرونو اور شيندنه ده چې دا ډول اغېز پنځوي. دا اورشيندي چې وسمهال د ځمکې پر مخ ډېر ليدل کېږي، معمولاً د سونګ وړ غازونو سره مل دي. که د اورشيندنې پر مهال دا غازونه وتپل شي، د هغوی پر فشار او نښتېځنې ورزياتېږي او چوي او په دې چاودنه کې د اورشيندي ويلې توکي د ټوټو او غونډېو په توګه شاوخوا ته توغول کېږي. دا ټوټې په هوا کې سړېږي او د تېز څوکو او ووړ او لواړو تيږو په بڼه او يا د وړو تيږو ډبرې د اورشيندي ايرو په نامه په لېرې واټونو کې را تويېږي. د «امطرنا» کليمه چې په پورتنيو آيتونو کې کارول شوې قاعدتاً همدغه ډبرين اورښت ته نغوته لري.

د اورشېندي سختې شوې ډېرينې ټوټې چې د اورشيندو بمونو په نامه نومول شوي او پېژندل شوي دي، له سخت غوزار سره چې توغول کېږي او ډېرى يې چې تيزې څوکې لري هر جامد جسم چې د هغوى د لارې په ليکه کې واقع وي ويجاړوي او اوږه کوي. د فيل اصحاب چې د «کعصف مأکول» په مصداق چې د فيل سورت په پاى کې ذکر شوى دى د خوړل شوو وښو او بوسو په څېر شول له دې تعبيره باهر نه دي.

نور مضمونونه او کليمې چې د فيل په سورت کې راغلي دي ددې جوتوونکي دي چې د فيل د اصحابو له منځه تګ او ټوټه ټوټه کېدلو د اورشېندي چاودنې په توسه بڼه نېولې ده. او همدا چې د «و ارسل عليهم طيراً...» په آيت کې د «اَرْسَلَ» فعل په قرآن کې څو ځلې د تيرو په اړه کارول شوى دى په داسې حال کې چې يو ځل هم داسې نه بريښي چې دا فعل د مرغانو په اړه کارول شوى وي. په لاندې توګه يو شمېر ته يې نغوته کوو:

«قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ. لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ. مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ.» [ذاريات ۳۲(۵۱:۳۲) تر ۳۴] پرښتو وويل: موږ د يوه مجرم [اوګنهګار] قوم [دمجازات] لپاره لېږل شوي يو. چې پر هغوى ختين کاڼي [= د اورشيندي ويلي توکي] و وروو. چې ستا د پالونکي څښتن په نزد د تيري کوونکو [پوله ماتيو او مجرمينو] لپاره [دهغوى له کړنو او چلن سره متناسب] نښه شوى [سرليک] دى.

«كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ. إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ نَجَّيْنَاهُمْ بِسَحَرٍ.» [قمر۳۳(۵۴:۳۳) او ۳۴] د لوط قوم [هم] ګواښنګران [او انذار کوونکي] دروغجن وګڼل. موږ پر هغوى [د اور شيندي له ويلو توکو] کاڼي و اورول، خو د لوط کورنۍ چې په ګهيځ [سپيده داغ] کې مو وژغورل.

«فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُمْ.....» [عنکبوت۴۰(۲۹:۴۰)]. هر يو [له هلاک شوو امتونو] مو د هغوى د خپلو ګناهونو له اغيزې ونيول، نو پر هغوى مو د شنګېږ توپان [= سختې بوربوړکۍ د اورشيندي له ويلي توکو سره] ورولېږه....

پورتنې ټول موردونه چې د لوط د قوم د عذاب په اړه دي، د «ارسلنا» فعل يې لکه د فيل د سورت په څېر د «عليهم» [يا عليه] له کليمې سره چې چاپېرونه، نغښتنه او بر لاسى رسوي. [وارسل عليهم طيراً ابابيل]. په دې ترتيب دلته د «ارسل» معنا، لېږل د پرېښوولو او توغولو په بڼه دى چې په دقيقه توګه د اورشيندو ويلي توکو له توغولو سره انطباق لري.

د «ابابيل» د کليمې په اړه يې هم راز راز نظريې ورکړې دي، خو که لغوي معنا ته يې پاملرنه وکړو چې د ډلې ډلې او پرله پسې والي (لکه د وښو او وچو خاشاکو ګېډۍ) مفهوم لري، دهغوی تناسب او هم غبرګ له نورو کارول شوو کليمو سره په ښه توګه درک کولی شو. او همدا راز، د اور شيندو غرونو څخه د اخېستل شوو فيلمونو له مخې پوهيږو، چې د اور شيندو له مخروطه د ويلي شوو توکو وتنه که څه هم ثابته او يونواخت نه ده خو د تمبوني او ډله ايزې بڼې په توګه ده.

په هر صورت کې، کومه پېښه چې د ابرهه د لښکر لپاره واقع شوه د مکې له جغرافيايي وضعيت سره نږدې اړيکه لري. پر دې بنا هاغه څه چې په تاريخ کې راغلي دي، د مکې خلک په هاغه ورځ ويني چې د پراخې وريځې په څېر يو څيز له لېرې واټنه په آسمان کې څرګند شوی دی. خو نوره ماجرا د هغوی د وهمونو او انګېرنو زېږنده ده چې ويلي يې دي الوتونکې چې مرزانو يا مرغيو يا توتکيو ته ورته ول هر يوه ووړ تېږو ته ورته کوم څيز په خپلو منښوکو کې نيولي ول او پر پيلانو يې ورخوشې کول. په داسې حال کې چې د مرغيو يا مرزانو يا توتکيو په کچه مرغان، که څه هم شمېر يې هر څومره ډېر هم وي هغوی به څومره تيږې خوشې کړای شي چې پيلان له هاغه ستروالې سره ويجاړ او له منځه يوسي لکه څنګه چې د قرآن په وينا لکه د ووړ شوو پاڼو يا ژول شوو وښو په څېر شوي ول.

کله به مو د ځنګلي حيواناتو په اړه فيلم ليدلی وي چې پيل د ټولو ځنګلي ښارويو تر منځ ستر او ځواکمن بريښي. کله به مو ليدلي وي چې کابو د شلو زمريانو ډله له يوه پيله چې له خپلې ګلې ليرې شوی وي چاپېر وي، ليدلي به مو وي زمريان له هرې خوا پر پيل ټوپونه وهي او غاښونه پرې لګوي، خو غاښونه يې د هغه په پوټکي کې نه ننوځي او د زمرو پنجې د هغوی له ټول ځواک سره ددې حيوان پر بدن کار نه کوي، چې په پای کې پيل ستړی شي او وغورځېږي، خو بيا هم زمري نه شي کولی هغه له پښو وغورځوي او د پيل ستړيا چې لږه رفع شي، بيا ځلې پر پښو دريږي او بيا جنګ پَيل شي خو په پای کې د حيوان سر له ډېرې ستړيا ناتوانه شي او پر ځمکه غورځي او زمريان يې څيري کوي.

اوس تصور وکړئ هاغه پوټکی چې تر دې کچې پېړ دی څه ډول يو وړوکی الوتونکی کولی شي د يوې وړې تيږې په توسه هغه څيري کړي، که څه هم تيږه له ډېرې اوچتې لوړتيا خوشې کړي او، د ځينو په قول د جاذبې قوه هم تيږې ته سرعت ورکړي او د هغې

د ضربې اغيز زيات کړي. د ګرمې او داغ تېرېږي اټکل هم نشي ورکول کېدی څکه چې مرغان نشي کولی هغه په خپله منبوکه کې ونيسي. او په عين حال کې قرآن هم نه دي ويلي «طيور» چې د ساري په توګه تعبير کړو د مرغانو لښکر، يرغل راوړی دی. بلکې وايي «طير» او په مفرده بڼه يې کارولی، هغه له «الف او لام» سره نه دی، چې ټاکلی مارغه وي، بلکه نکره يې ذکروي: طَيراً. «طير» په عربي کې په څو معناو کارول کېږي؛ د ساري په توګه وريځ ته طَير وايي؛ يا الوتکې ته «طياره» وايي. په ټوليزه توګه هر هغه څه چې په آسمان کې حرکت وکړي او يوه لارليکه ووهي هغه ته «طير» ويل کېږي. ومو ويل چې د فيل سورت د «طيرا» لفظ د نکره په توګه راغلی دی او په مفرده بڼه کارول شوی دی او په تفسيرونو کې د يو مارغه په توګه ګڼل شوی دی سره ددې چې له دې معنا سره د «الطير» يا «الطيور» لفظونه ډېر تناسب لري. نو، «طيرا» د ابابيل لپاره د مصدري او حال والي په معنا، د کلام له سياق او د ابابيل له اصلي معنا [د بوسو او ګیاه ګېډۍ] او د سجيل معنا لکه څنګه چې د هود او حجر له آيتونو استفاده کېږي، مناسبتر او مطابقتر دی.

پر دې بنا، بايد وويل شي چې له طيراً څخه مقصد هماغه د اورشيندي ويلي توکي دي چې د اورشيند پر مهال لکه د وربځې په څېر حرکت کوي يا د طيّارې په څېر په آسمان کې الوت کوي. «ابابيل» هم يعنې جوپه جوپه، ډلې ډلې او ِغونډ غونډ. که د اورشيندو په فيلمونو کې مو ليدلي وي، اورشيندي يو ناڅاپه او يو ځلې نه خوټېږي او فوران نکوي؛ بلکې لکه د پمپ په څېر چې يو ځيز توغوي، يو پر بل پسې له يو ريتم او آهنګ سره، ويلي توکي توغوي. او «ابابيل» هم يعنې لکه د وښو د ګېډيو په څېر يا کومو ځيزونو چې يو تر بله يې پيوند خوړلی او پله پله يا څپه څپه يو پر بل پسې رسېږي.

---

**تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ﴿۴﴾**

چې پر هغوی د ويلي شوو[۵] ډبرو [= د اور شيندي ويلي شوې] ګيټکۍ ووريدلې.

**فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ﴿۵﴾**

نو [په پايله کې] هغوی يې د ژووليو بوسو [ګیاه][۶] په څېر کړل.[۷]

| تَرْمِيهِم | بِحِجَارَةٍ | مِنْ | سِجِّيلٍ | فَجَعَلَهُمْ | كَعَصْفٍ | مَأْكُولٍ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ويشتل يې هغوی | په ډبرينو ګيټکيو | له | پخې خټې (کردونې) | نو و يې ګرځول هغوی | لکه ګیاه (وابنه) | ژوول شوي |

۵ – د اور شرارو [سپرغیو] ته د «تَرْمِی» [توغوي] د فعل نسبت ورکول، اتفاقاً په قرآن کې د انطباق وړ قرینه لري: مرسلات ۳۱ (۷۷:۳۱) او ۳۲ «لا ظَلِیلٍ وَ لَا یُغْنِی مِنَ اللَّهَبِ اِنَّهَا تَرْمِی بِشَرَرٍ کَالْقَصْرِ». پر نورو تهمت کول هم قرآن له غشي سره ورته ګڼلي دي [نور ۴ (۲۴:۴)، ۶ (۲۴:۶) او ۲۳ (۲۴:۲۳)].

«سِجّیلٍ» هم د پارسي د [سنګ ګِل] معرب دی چې ګاف په عربي ژبه کې په جیم اووښتی دی. د «سِجّیل» کلیمه پر دې سورت سربېره ، په قرآن کې د «... وَاَمْطَرْنَا عَلَیْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجّیل ...» له جملې سره چې د هاغه باران په اړه دی چې د اور شیندي ویلي توکي د ځمکې د جامد پوښ له لاندې باندې کېدو او د ویلي پوړ له ځوښه په اوربېدو راغلي، او له هاغې چاودنې سرچینه نیسي، چې د ځمکلاندې ګازونو له تېل کېدو ورسته رامنځته کېږي. [هود ۸۲(۱۱:۸۲) او حجر ۷۴(۱۵:۷۴)].

د هرکولانا، پمپی او وزو ښارونه چې د اورشیندي تر ویلي توکو لاندې خښ شوي دي، د ښځو، نارینو او ماشومانو په ډبرو تبدیل شوي، ددې پر ځای چې د راتلونکو لپاره د عبرت وسیله شي، خو د هغوی جسدونه وسمهال د توریسم له لارې د ګټې اخیستنې او پیسو لاسته راوړنې لپاره وسیله شوي دي.

د اورشیند له ډبرینو ګیټکیو د وربخ په توسه د فیل د اصحابو له منځه تګ او نشتېدل ځانګړی او هېښنده چار نه وو، ددې ډبرینو ګیټکیو [حاصب] په اړه خبره د قرآن په ۴ نورو آیتونو کې، د پخوانیو ګرګرو قامونو د هلاکت او نشتاند په ستاینه کې، په ځانګړې توګه د لوط قوم چې په عربستان کې اوسېدل، [صافات۱۳۷ (۳۷:۱۳۷)او ۱۳۸، حجر ۷۶(۱۵:۷۶)]، د «یُرْسِل/ اَرْسَلْنَا عَلَیْکُم/ عَلَیْهِ حَاصِبًا» له ستاینې سره راغلی دی [اسراء ۶۸(۱۷:۶۸)، عنکبوت ۴۰(۲۹:۴۰)، قمر ۳۴(۵۴:۳۴) و ملک ۱۷ (۶۷:۱۷)]. هېښنده دا چې د ایران د مالګینو دښتو پر آسمان کې هم روانو شګو او شنګېږ د زبرځواک سمبالې چورلکې د طبس په دښته کې د ذلت پر ځمکه راوپرځولې! که ستمګران او ګرګران په اوسنۍ نړۍ کې د ناپالم بمونه او ډول ډول کیمیایي بمونه پر مظلومو او ربړېدلو خلکو غورځوي او شیندي، د فیل له اصحابو سره ورته سرلیک د هغوی لپاره له کېدو لېرې نه دی.

۶ – وابنه او بوس او خوراک چې څاروي یې ژووي، لړوډېر یو ډول ګډوله د هغوی په معده کې رامنځته کوي، د انسان بدن هم د اورشیندي د ویلي توکو د وربخ پر وراندې، او هغه فوق العاده تودوخه چې تیږې ویلي کوي، هډوکي یې یو تر بله ماتېږي او ووړېږي.

۷ – د فیل د اصحابو د عذاب ډول د هغوی له آره او بېلارۍ سره ورته دی؛ هغوی د لښکر په سر کې د پیلانو په مخکې کولو سره، هر آړ او خنډ د هغوی له درندو پښو سره چیتول او له ځمکې سره یې یو شان کول او هوارول، خو په پایله کې پخپله دوی لکه د څارویو د ژوول شوو بوسو په څېر اوړه او چیت شول.

## د فیل سورت د څلورم او پنځم [(۱۰۵:۴) او ۵] آیتونو تشریح:

تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ. «تَرمی» له «رمی» څخه اخېستل شوی دی، د نښې نېولو، وېشتلو او خوشې کولو په معنا. «حِجَارَة» یعنې تیږه یا ووړ کاڼي. «سجّیل» غالباً د فارسي سنګ ګل دی، څرنګه چې په عربي ژبه کې «ګاف» نشته، ګِل د «جِل» په بڼه تلفظ کوي د سَنج[سنګ] او «جیل»[ګِل]، د «ج» دوه توري په یو بل کې ادغام شوي او د «سجّیل» په بڼه راغلی دی. او ابن عباس هم په دې اړه وايي چې دا لفظ د فارسي د سنګ او ګل معرب دی او مطلب ترې هاغه ډبرې دي چې د خاورې له ختوبي څخه جوړې شوې وي. په هر حال کې، د اورشیندي ویلي توکي او د ویلو توکو ډبرې چې د غرونو له منځه راوځي سمدم لکه د ختې او بهېدونکي ختوبي په څېر دي. خو کوم مهال چې په آسمان کې خپرېږي، د تېزڅوکو ډبرو په بڼه اوړي او پر ځمکه اورېږي.

موږ یې نمونې په تاریخ کې د پمپی په پېښه کې په یاد لرو . یا په نورو ښارونو کې، چې له کیندنو وروسته چې سرته ورسېدې، د انسانانو، هیکلونه چې د اورشیندي تر ایرو لاندې عیناً بشپړ ساتل شوي ول، د ساري په توګه یوه مور چې ماشوم یې په غېږ کې درلود، له خاورو را ویستلې وه. هاغه پېښه چې په پخوانیو مهالونو کې د ایټالیا په ښارونو کې واقع شوې وه په رښتیا چې هېښوونکي او عجیبه ده او همداسې واقعه عیناً د لوط د قوم لپاره هم پېښه شوې ده.

د ځمکې له جامد پوښ او پوټکي څخه د اورشیندي ویلو توکو په پرله پسې توګه، د راوتلو پر مهال، د کیماوي کړ او کړپایلو او له هغو د ولاړو شوو غازونو له اغېزې چې په سختۍ د ځمکې پر پوټکي فشار راوړي، نابېره د ځمکې یوه برخه سورۍ کېږي چې له سختې او فوق العاده چاودنې سره مل وي، دا چاودنې هم فوق العاده غبر لري او هم د زلزلې لامل کېږي او ځمکې ته فوق العاده سخت ټکان ورکوي او ورپسې هم ویلي توکي [لاوا] لکه د اورښت په څېر په اوربدو پیل کوي.

نو هغوی یې «تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ.» پیل والا یې د «سجّیل» له تیږو سره، له یو ډول ختېډبرو او شنګېږ په توسه، په نښه کړل او هغه یې د پیلانو پر سر ور خوشې کړل. فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ. چې هغوی یې د ژوول شوو بوسو او وښو په څېر کړل، كَعَصْفٍ

مَّأْكُولٍ. د «عصف» کليمه د نباتي پاڼو او خسو په معنا ده، او هم د نباتي دانو د پوټکي [يا] په معنا لکه د غنمو پوسته چې د هغې دانه يې خوړلي وي او د حبوباتو پوټکی لکه د لوبيا او نخود پوټکی چې داني يې خوړلي شوې وي او هم لکه هاغه څيز چې د څارويو تر غاښونو لاندې ووړ او چيت شي او وژول شي چې خوړلو ته برابر شي.

ځينو هم ويلي دي: د «عصف مأکول» څخه مطلب، هاغه نباتي پاڼې دي چې آکال په کې پربوتی وي، يعنې سپږيو او چينجيو خوړلي او فاسد کړې يې وي.

نو په «ترميهم بحجارة من سجيل» کې دا چې د «ترميهم» فعل د مؤنث په توګه کارول شوی دی، له قرينې او د «طيراً) د کليمې په اعتبار او د هغه نکره والی دی چې د «اسم جمع» مفهوم لري او د جمعې فاعل، فعل مؤنث کوي.

بله کليمه چې بايد په اړه يې توضيح ورکړل شي، په دې آيت کې د «رمی» کليمه ده. د «رمی» کليمې معنا نښه نېول دي او له هغې څخه له تمبونې او فشار سره د ليږلو مفهوم اخېستل کېږي، هاغه فشار او ضربه چې د مرغانو په مښوکه يا سر کې [حتا تر ټولو ستر مارغه کې] د انګېرنې وړ ده زيات نه زيات کولی شي د نېول شوي هدف په جسم کې يو سوری رامنځته کړي! په داسې حال کې چې غره ته ورته د ابرهه پيلان له داسې څيز سره په نښه شول چې هغوی يې لکه د ژوول شوو وښو په څېر اوړه اوړه او ټوټه ټوټه کړل.

نو «رمی» له پيليځ ځواک او فشار سره توغونه ده، په داسې حال کې چې د مرغانو په توسه د تېږو پرېښوونه يوازې د جاذبې ځواک له ځان سره لري چې دا ډول کړنې او عمل د هغوی حجم او وزن ته په پاملرنې له هغوی لېرې بريښي. اتفاقاً په قرآن کې (پر دې سورت سربېره) په يوازينې بل مورد کې چې د «ترمی» مؤنث فعل کارول شوی دی، دقيقاً دا ډول عمل پر هاغو سپرغيو چې له اوره پورته کېږي [يعنې سپرغۍ چې توغول کېږي] اطلاق شوی دی چې عيناً هماغه سپرغۍ دي چې د اورشيندي له چاودنې سره توغول شوې دي:

لَا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ. إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ. [مرسلات ۳۱(۷۷:۳۱)او ۳۲].

چې نه سيور ارتی [= واقعي ساتونکی] دی او نه د اور د لمبو مخه نيسي!. [چې] د ماڼۍ په څېر سپرغۍ توغوي [= د جبّارانو له ماڼيو يو غبرګون دی چې د هغو په پناه کې

يې د تلپاتېتوب احساس کاوه!]. پورتنی آيت جهنمي وريځ په داسې ډول ستايي چې نه د سيوري خاصيت لري [د تودوخې له لګېدو پېوونکی] او نه د اور له سپرغيو نا اړمنتيا کوي [له هغه مخنيوی نه کوي]، هغه (اور) د ماڼۍ په څېر سپرغۍ توغوي!

وايي نو هغه مهال فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ. «عَصف»، لکه څنګه چې مخکې وويل شول، وچو بوسو او وښو ته وايي؛ لکه قرآن د رحمان سورت کې هم وايي «وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ» [رحمان ۱۲ (۵۵:۱۲)]. او [هم] غلې دانې د [ساتونکي] پوټکي لرونکي او خوږبويه بوټي.

په عربي ژبه کې د منې وچو پاڼو ته هم «عَصف» ويل کېږي. يعني د ابرهه لښکر، له هاغه ستروالي سره سره، چې راغلي ول، چې هر څيز د خپلو پيلانو تر پښو لاندې چيت کړي، پخپله ددغو اورشيندو له بارو او ډېريو لاندې ووړ او چيت شول. «مَّأْكُولٍ» يعنې ژوول شوی او خوړل شوی څيز. يعنې هغوی لکه د خوړل شوو بوسو په څېر شول.

د مخکيني سورت [د هُمَزَة سورت] په اړه مو نغوته درلوده چې دا دواړه سورتونه هم – لکه د قرآن د نورو سورتونو په څېر – يو تر بله اړيکه لري. په مخکيني سورت کې وايي وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ. وای پر هغوی چې د نورو د شخصيت د ووړولو او ماتولو قصد لري. الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ. هغوی چې يوازې د مال په ټولولو او د هغوی د شمېر په زياتولو پسې دي او انګېري چې له قدرت او مال سره چې ترووړلی يې دی کولی شي په دنيا کې خالد او جاويد او تلپاتې اوسي. «كَلَّا لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ.» [همزة ۱ (۱۰۴:۱)] چې توضيح مو ورکړې وه «حُطَمَة» هم يعنې ماتېدل، ووړېدل او چيتېدل او هغه څيز چې ماتوي او ووړوي.

د «نمل» په سورت کې هم وايي مېږيان چې کوم مهال د حضرت سليمان لښکر وينې خپلو کې يو بل ته وايي: «لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ» [نمل ۱۸ (۲۷:۱۸)] داسې نه چې سليمان او د هغه لښکر مو تر پښو لاندې چيت کړي. اوس، د «همزه» سورت کې هم همدا وايي چې انسانان کله چې قدرت ته ورسيږي، غواړي نور تر پښو لاندې چيت کړي. او اوس يې اړيکه له دې سورت سره په څرګنده توګه ليدلی شو. د «همزه» په سورت کې يو نفساني او روحي

وضع او بهير له شخصي او فردي لامله بيانوي. چې همدا دنياپالي او د نورو د حقونو تر پښو لاندې کول، رټل، او سپکول دي، او د فيل په سورت کې همدا نفساني وضع او بهير په سترو قدرتونو او ځواکونو پای ته رسيږي چې غواړي ملتونه واړه او چيت کړي او د نظامي او پوځي جهنمي دستګاه ګانو او سيستمونو په توسه يې تر پښو لاندې چيت کړي او وځپي؛ همدا ځواکونه چې پر خلکو ناپالم بمونه او د بمونو مور اچوي او يو نسل له منځه وړي او ميليونونه انسانان په عامه توګه قتلوي، ميليونه انسانان ټپيان کوي او معلولوي، او هغوی بې کوره کوي. په تېره زمانه کې يې دا کار د ساري په توګه د فيل په توسه کاوه او د هاغو ورځو جهنمي ځواکونو وسايل او امکانات تر دې کچې ول، اوس د وسلو جوړولو کارخانې راز راز وسلې او جنګي وسيلې توليدوي او د ملتونو پر سر سترې بلاوې راوړي چې د ويجاړۍ او وژنو د پراختيا له اړخه له تېر سره هيڅ د پرتلې وړ نه دي دا چې په مظلومو ملتونو کې يتيمان، کونډې او معلولين ترې پاتې کېږي دا يې سر باري دي. وسمهال کولی شي يو ملت له يو مخې يو ځل له منځه يوسي، څه د اتومي او هسته يي بمونو او څه د کيميايي بمونو يا نورو ډارووونکو وسلو په توسه. که د مختلفو موسساتو او څېړنيزو مرکزونو راپورونه په دې اړه مطالعه کړئ په رښتيا چې هيښوونکي او ډارووونکي دي.

که د قرآن آيتونو ته پاملرنه وکړو څرګنديږي چې څه ډول د انسان عمل پر طبيعت اثر غورځوي چې دا پخپله يو دقيق بحث دی او ځانګړې ژورې څېړنې ته اړتيا لري، سره له دې چې اوس ځينې له دې مسئلو مور ته پېژندل شوي دي. قرآن په ځلونو دې موضوع ته اشاره کړې ده چې کوم عذابونه چې پر مخکينيو امتونو نازل شوي دي د هغوی د خپلو عملونو او کړنو نتيجه او پايله ده.

انسان له طبيعته بېل نه دی او داسې نه دی چې د انسان کړنې د جهان له ټوليز سيستم څخه بېلې او منفکې وي. د عالم د نظام ټولې اجزاوې په يو بل کې تاثير لري. که د انسان ظلم او ځور او جنايت له بريده تېر شي، طبيعت هرومرو غبرګون څرګندوي. د ساري په توګه فرعون چې رود نيل د هغه د ډاډ او تکيه ځای وو، هغه پخپله او لښکر يې هم په هماغه ځای کې ډوب شول. يا د بېلګې په توګه د عاد قوم چې د ډاډ ځای يې د غره په زړه کې سترې ماڼۍ او کلک

بنسټونه ول، په هماغه ځای کې تندر او تکه پرې ولګېده او له منځه ولاړل. يا د شعيب قوم هم په همدې ډول. يا قارون چې سترې او درندې خزانې او زېرمې يې درلودې – نقل کوي چې يوازې کونجي ګانې يې دولس کسانو لېږدولې – هغه هم پخپله او هم کور او خزانې يې په ځمکه کې ننوتې او ډوبې شوې. نو د انسان د کړنو او طبيعت تر منځ يوه اړيکه شته.

نو هر هغه څيز چې بشر هغه د ډاډ او تکيه ځای په توکه وګوماري هماغه به يې د نشت او له منځه تګ لامل شي. دا هاغه حقيقتونه دي چې په عالم او کايناتو کې شتون لري. چې البته ډېری له هغوی له علمي ليده موږ ته روښانه نه دي، خو قرآن هغه زموږ تر غوږونو رسولي دي او د انسان د عمل نتيجه او پايله يې د هاغه د خپل عمل پاداش او غبرګون ګڼلې دی.

ددې سورت پايلاميز آيت، د «اصحاب الفيل» پاتې شوني د خوړل شوو يا ژوول شوو وښو يا بوسو په څېر څرګندوي [فجعلهم کعف مأکول]. داسې برېښي چې د «مأکول» د کليمې په کارولو کې يوه موخه شتون ولري هغه دا چې د ذهنونو پام د ژولو د عمل ورته والي ته له هاغه څه سره چې د «اصحاب الفيل» پر سر راغلي، واړوي. کومه مړی چې خورو، له مخکې په خوله کې د دريو ځواکونو تر اغيز لاندې تر ګومارلو وروسته خوړلو ته چمتو کېږي:

۱ ـ ميخانيکي ځواک او هاغه ضربه چې د ژامو له حرکت سره بڼه نيسي او د غاښونو د مښودلو په ځواک بشپړېږي. ۲ ـ کيميائي ځواک (د خوند ترشحات).

۳ ـ حرارتي ځواک (د خولې تودوخه).

داسې برېښي چې د اورشيندو د ويلي توکو وهونکی او د چاودنې ځواک هم د توغونې له ړومبنۍ ضربې سره او د اوبو د زيات بړاس له شتون سره چې معمولاً له هر اورشيندي سره مل دی او د اور شيندنې تودوخه چې په ټوله کې به د «اصحاب الفيل» د ووړولو او اوړه کولو لامل شوي وي. چې ورته والی يې له ژوولو او خوړلو سره څرګند دی.

## طبيعي جوتونې :

د «اصحاب الفيل» پېښه د لوط له قوم سره له ګډ ورته والي پرته چې د سجيل کليمې د کارونې له مخې يې لري او د فيل او هود او حجر سورتونو د آيتونو په

اعتبار مو پورته ورته نغوته وکړه، د قرآن په تصريح د «اصحاب الفيل» پيښه په هماغه سيمه کې واقع شوې ده چې د لوط قوم د اوسېدو سيمه وه او د هغوی نشتېدلو هلته بېه نيولې ده. د حجر او صافات له سورتونو ځينې آيتونه چې په لاندې توګه ورته اشاره کېږي ددغې واقعيت تأيېدوونکی دی:

«وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ مُصْبِحِينَ. وَبِاللَّيْلِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ.» [صافات ۱۳۷ (۳۷:۱۳۷)]

او په حقيقت کې تاسو پر هغوی ګهيځ او ماښام تېرېږئ، آيا نو اندنه نه کوئ؟

«فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ. فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ. إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ. وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ.»[حجر۷۶(۱۵:۷۶)]

نو هغوی د لمر لګېدو پر مهال ډارووونکو نارو ونيول. نو هغوی مو لاندې باندې کړل او د سجيل له ډبرو مو پر هغوی اورښت واوراوه، په ريښتيني توګه په دې پيښه کې د غور او تحقيق د اهل لپاره نښانې شتون لري. او په تحقيق هغه (دېاټوبي په لارليک کې) پاييدونکې لار ده.

د لوط د قوم لپاره د مکې ځمکه د ټاټوبي په توګه له چاودنې او اورشيندی سره چې لکه د پردې په توګه پرې د هغوی فساد او فحشا ونغاړل شوه، همدا راز هاغه عذاب چې د سجّيل له اورښت سره پر پيلملانو واقع شو، څرګندوي چې د مکې غرنۍ سيمه اصولاً له پخوا څخه د داسې اووښتون او تحول لپاره چمتووالی او استعداد لري او اوسنۍ وضعه يې هم د داسې بڼې ښکارندوی ده.

ددې ښار خلکو هم د اوشيندي او له آسمانه د هغې د ويلې توکو د اورښت په نسبت پخوانۍ اندنه او مخکينۍ آشنايي درلوده، چې نيغ په نيغه يې [د«اصحاب الفيل» په پيښه کې] هغه په خپلو سترګو ليدلې او يا يې په غير مستقيمه توګه د پلرونو له لارې [د لوط د قوم په پيښه کې] ددې مسئلې په اړه علم موندلی وو، په داسې ډول چې د وحی او کتاب په دروغ ګڼلو کې يې څرګنداوه، خدايا که دا هماغه حق ستا له لورې وي نو پر موږ تيرې و اوروه.

«وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ» [انفال ۳۲(۸:۳۲)].

او [درياد کړه] هاغه مهال چې دوی وويل: ای خدايه! که دا [=قرآن] هماغه حق ستا له لورې دی، نو په دې توګه پر موږ د کاڼو [= د اورشيندو ويلو توکو] اورښت و ووروه! يا کوم دردناک عذاب راباندې راوله.

د مکې د چاپېريال اوبجه لکه څنګه چې له بره، له آسمانه ننداره کېږي، له يوې مخې د اورشيندو له تور رنګو ډبرو سره پوښل شوی ده چې د پخوانيو اورشيندو ويلي توکو له بهيره يې بڼه نيولې ده. چې ددې اورشيندو چاودونکې بڼه د ځمکې باندينۍ سطحې ته نژدې له دننيو غازونو سرچينه نيسي.

لکه څنګه چې مخکې وويل شول دا غازونه له ويلي شوو توکو توليدېږي د پاسني پوړ پرده په پرده کې را ټولېږي او له ګڼون او تپل کېدو وروسته، د وتلو او آزادېدو لپاره د لارې په لټه کې، په ناڅاپي توګه بهرنۍ نازک پوښ اخوا کوي او له چاودنې اوسخت او شديد خروش سره د خوشې کېدو په توسه ځمکه لاندې باندې کوي [فجعلنا عاليها سافلها].

هاغه څه چې آسمان ته توغول شوی [سجيل]، له خوځنده وريځو د ډبرې په بڼه [طيراً] چې په وار وار، جوپه جوپه، ډلې ډلې او غونډ غونډ [ابابيل] توغول کېږي، په ټاکلو واټنونو کې د پېښې د داغو او سوځوونکو تېږو د غوزارونو تر ضربې لاندې د خوړل شوې او ژوول شوې غذا، وښو او پروړې په څېر واړه او اوړه کېږي. «فجعلهم کعصف مأکول»

[هاغه څه چې په دې سورت کې، «اصحاب الفيل» ته د پېښېدو په اړه راغلي دي، په ټوله کې د ښاغلي جناب دوکتور يدالله سحابي له نظرياتو اخېستل شوی دی چې له قرآنه د خپلې ژورې پوهې او آګاهۍ په ډاډ او هاغه تبحر او تخصص چې د ځمکپېژندنې په علم کې لري، په دې اړه يې ارزښتمن تحقيقات کړي.]

کومه پېښه چې د لوط له قوم او «اصحاب الفيل» په اړه رامخته شوې ده، سره له دې چې په جوته توګه او د اوسنيو علومو له ليده د توجيه وړ ده او تاريخ هم زياتې نمونې او ګواهۍ د پمپۍ، وزو، هرکولانا ... او نورو ښارونو کې څرګندې کړي دي، خو هاغه څه چې دلته تر پام لاندې دي ددې پېښو اړيکه له پورتنيو قومونو د کړنو او لاسته راوړنو سره ده. دا سمه ده چې دا ډول پېښې په عادي توګه تل د نړۍ په ګوټونو او اړخونو کې پېښيږي خو له دې انکار نشو کولی چې د هستۍ په جهان کې د هغه له پېچلي او هېښوونکي نظام سره ټولې برخې او اجزاء يو پر بل متقابل آغېز لري او لکه د يو ماشين د اجزاؤ په څېر د يوې برنامې

او موخې په چوپړ کې دي. په داسې ډول چې د ماشين د يوې وړې برخې خرابېدل کېدی شي د ټول ماشين د دربدو لامل شي.

د قرآن د ښوونو پر بنسټ، د انسان عملونه او کړنې خارجي آغېزې لري چې په ځمکه او آسمان کې د انډولتيا او تعادل د له منځه تګ او فساد لامل کېږي. زموږ په خاورينه ځمکه کې ميليونونو لاملونو يو بل ته په لاس ورکولو او هم غږي کېدلو د انسان د ژوند غځېدو او تداوم ته ډګر برابر کړی دی. له پورتنيو لاملونو څخه د هر يو له ټاکلي او مقدر شوي همغږي چورليځ څخه په وتلو، په سيستم کې يو اختلال رامنځته کېږي. دا اختلال هماغه عذاب دی چې د هغې اصلي علت او انګيزه انسان دی. پر دې بنا د هر اختلال او عذاب ځمکه او ډګر په طبيعت کې شتون لري خو د هغوی راپاڅونه [بعثت] د انسان په عمل پورې تړلی دی: « قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا...» [انعام ۶۵(۶:۶۵)]

ووايه هغه قادر دی چې پر تاسو يو عذاب ستاسو له پاسه يا ستاسو د پښو له لاندې راوپاروي، يا تاسو تاسو ته د بيلتون اغوستن درواغونډي .....

داسې برېښي چې د «ابرهه» د لښکر استکبار [سرغړاوی] او استعلا [لوړاوی] د حبشې د ټولواک او د روم د ټولواکمن له پراختيا غوښتونکو ښکېلاکګرو موخو او برنامو سره، د مکې د سيمې له دا ډول چمتووالي او استعداد سره همغږی او هممهالی وو. هاغه چې «ابرهه» د خپلو جنګي پيلانو په ډاډ د انسانانو د ژوند په لغتولو او چيتولو او د خدای د بندګانو د کورکوډلو په ويجاړولو سر ته رسولی وو، د داسې ډګر د پيليز برابروونکی شو او دا ډول عذاب يې راوپارو او لکه څنګه چې هر فعل چې په ځمکه او اسمان کې رامخته کېږي اصلي فاعل يې خدای دی، دا ډول عمل يې ځان ته نسبت ورکړی او فرمايلې يې دي: « الم ترکيف فعل ربک باصحاب الفيل».

پاکه ربه موږ د داسې کړنو له پايلې بچ وساته چې په دنيا او آخرت کې د عذاب د پارولو لامل کيږي. [ربنا انّنا امنّا فاغفرلنا ذنوبنا و قِنا عذاب النار....]
صدق الله العليّ العظيم.

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لیکنه
۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضى مطهري ليکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب لیکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلى مودودي ليکنه
۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبير احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ـ پرتوى از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفى خرمدل ليکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه
۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
۱۳ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح
۱۴ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۵ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۶ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۷ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندى
۱۸ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف
۱۹ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۲۰ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۱ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه
۲۲ ـ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۳ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه
۲۴ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه
۲۵ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۶ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

۲۷ــ شـرحي بـر سـوره هـای قـرآن - عبـدالعلي بازرگـان - د عبـدالعلي بازرگـان وېـب پاڼـه [bazargan.com]
۲۸ ـ تفسیر روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صدیقي.
۲۹ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۳۰ ـ روح المعاني فی تفسیرالقرآن العظیم والسبع المثانی ــ العلامه ابی الفضل شهاب الدین محمودالالوسی البغدادي
۳۱ ـ تفسیر جواهرالقرآن ـ مولانا حسین علي
۳۲ ـ تفسیر روح البیان ـ شیخ اسماعیل حقی البروسوی
۳۳ ـ «کنزالایمان او تفسیر نورالعرفان» ترجمه احمد رضاخان بریلوي، تفسیر احمد یارخان نعیمي
۳۴ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکریم ادبي او عرفاني تفسیر] خواجه عبدالله انصاري
۳۵ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسیر] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي
۳۶ ـ تفسبر الفخرالرّازی المشهور بالتفسیرالکبیر و مفاتیح الغیب، امام محمد الرازی فخرالدین
۳۷ ـ التّفسیرالمبین دکتور عبدالرحمن بن حسن النّفیسه
۳۸ ـ د مکې د غرونو په جغرافیا او ځمکپېژندنه کې څېړنه: مرحوم دوکتور یدالله سحابي